schemes ، د تیر حکومت نه چه کوم پاتے شوی وو نو هغے ته نے ترجیح ورکړے وه او په هغے کښ به زه یو مثال دا ورکړمه جناب سپیکر، چه د هغے نه مخکښ د 1993 اے ډی پی کښ یو سړک خوازه خیله بشام روډ شامل وو، شپږ کلومیټره په هغے باندے کار شوے وو لیکن تیر حکومت چه کله برسر اقتدار راغے نو هغه سکیم ئے ډراپ کړو۔ دا یو مثال دے چه د اے ډی پی نه، چه دومره کار پکښ اوشی او هغه سکیم ډراپ کیږی نو زما په خیال باندے دا د قانون نه خلاف ورزی ده ځکه چه په یو سکیم کښ د لسو روپو ټوکن ورکړے شی نو هغه سکیم د ډراپ کیدو بیا نه وی۔ نو که دغه شان On going schemes جاری ساتلے شوے وے په تیر حکومت کښ نو زمونږ دا کوم معزز اراکین چه مالاکنډ ډویژن ته پسمانده وائی او د سړکونو کوم حالت بیانوی، خوازه خیله بشام روډ د سوات، زما خیال باندے دریمه حصه علاقه ده، دا پنځه کاله Gap چه راغلے دے نو نن به هغه روډ مکمل وو۔ نو کم از کم هغے طرف ته مخکښ به تلے وو۔ (تالیاں) جناب سپیکر! دا تیر کال چه دا اوس په 30 جون باندے ختمیږی، که د دے کال بجټ ته تاسو اوګورئ نو په دیکښ زمونږه د حکومت ترجیحات چه کوم دی، نو هغه واضحه دی۔ هغه دا دی چه د دے حکومت ټوله Priority او ترجیح هغه کارونو ته ورکړے ده چه زمونږه صوبه پرے خود کفالت او خود انحصارئ طرف ته ځی۔ په هغے کښ غټے غټے منصوبے شامل کړے شوی دی چه هغه زمونږ د راتلونکی وخت د پاره یوه لاره ده، یو قدم دے چه مونږ په هغے باندے ترقی اومومو لیکن تاسو ته معلومه ده جناب سپیکر، چه په تیر 28 مئی باندے چه کله بم بلاسټ اوشو، اے ډی پی یا بجټ چه جوړیږی نو د هغے د پاره پوره وخت لګی، زمونږه آخرینے د بجټ جوړیدو میاشت وه چه کله هغه Sanctions په مونږه باندے اولګیدل نو د هغے اثرات د دے کال په دے بجټ باندے راغلل۔ په دغه بجټ کښ چه کوم کوم سکیمونه یا هغه ټارګټس چه نه دی پوره شوے یا کوم پکښ مشکلات راغلی دی نو زیات تر د هغے مالی Funding نه دے شوے، په دے وجه باندے هغه ترجیحات سر ته نه دی رسیدلی۔ په موجوده وخت کښ دا بجټ چه کوم زمونږه پیش شو جی نو د

دے ترجیحات هم دا دی چه هغه منصوبو ته ترجیح ورکړے شی چه هغه زمونږ د صوبے د خود کفالت او خود انحصاریٔ طرف ته یو قدم دے او په هغے کښ د هغے خبرے ازاله اوکړے شوه چه تیر کال د بم بلاسټ یا مونږ ته د مرکز نه پیسے نه دی ملاوشوی، چه کومے منصوبے زمونږ متاثره شوی دی نو د موجوده حکومت دا کارنامه ده چه هغے ته ئے د خپلے صوبے نه Funding اوکړو او د هغه سکیمونو د مکمل کیدو پروګرام ئے کړے دے۔
جناب سپیکر! په دیکښ زه یوه خبره دا کوم، زمونږه دا ټارګټس چه نه پوره کیږی او کوم بجټ چه مونږ جوړ کړو او د اے ډی پی د راتلونکی کال د پاره دا ټول سکیمونه سر ته او نه رسی نو په هغے کښ یو رکاوټ دے چه د هغے د لرے کولو زه خواست کومه او په هغے کښ دِ کوشش اوکړے شی۔ هغه رکاوټ دا دے چه یو خو مالی مشکلات نو هغه خو په خپل ځائے دی، هغه خو که په حکومت راشی نو هغه د قدرت د طرف نه هم راځی لیکن چه کوم رکاوټ دے نو هغه زمونږ د بیوروکریټس د دفترو یا د هغے هغه چکر دے۔ یوه اے ډی پی جوړه شوه، دا بجټ نن پیش کړے شو، دا فنانس په دیکښ شامل دے، په دیکښ پی اینډ ډی شامل دے، دویٔ د خپلےسلاسه دا څیز جوړکړے دے لیکن په دے زه نه پوهیږمه چه لکه بیا د دے کال، د راتلونکی وخت نه چه کومے محکمے له هغوی یو Estimate جوړ کړی، هغوی دغه PC-I جوړ کړی، هغوی د هغے ځائے Feasibility جوړه کړی نو بیا ولے دا په میټنګونو باندے ټول کال په دفترو کښ پراته وی؟ که تاسو زمونږه د دے کال دا بجټ یا دا اے ډی پی اوګوریٔ نو دا ټول زما په خیال، د انګریزیٔ چه څومره الفاظ دی، د ABCD نه واخله تر XYZ پورے، لکه د دے ټولو میټنګونو، نن د پی ډبلیو ډی Meeting وی، کله به د ABCD, meeting وی، کله به XYZ, meeting وی، د دے میټنګونو په وجه دا په دفترو کښ پراته وی او یو Meeting میاشت پس کم از کم او درے میاشتے پس به خواه مخواه د هغے Meeting وی نو زما په خیال دغه د شمار میاشتے دی او چه هغه تیرے شی نو دغه کال ختم شی او هغه کار او نه کړے شی۔
جناب سپیکر! زه هغه منصوبو طرف ته راځم۔ زه به د وخت بچ کولو د پاره

د مرکزی او صوبائی حکومت دا دغه په شریکه واخلم چه کومے منصوبے دلته کښ فی الحال اعلان کړے شوی دی، جناب سپیکر! په دے کښ دا پیہور هائی لیول کینال، د صوابئ سکارپ، منډا ډیم، چشمه رائټ بینک کینال، گومل زام، پاؤر جنریشن ته ترجیح ده چه په کومه کښ شیډو خود مختاره اداره جوړول شامل دی۔ د وزیر اعظم دا پیکیج د روډونو د پاره نو په دیکښ د کوهات سرنگ، پشاور اسلام آباد موټروے، ټل پاره چنار روډ، د پشاور ترقیاتی پروګرام، د نوشهره چبلاټ روډ، فارم ټو مارکیټ روډ، Village electrification, داسے منصوبے دی او ورسره ورسره د ملاکنډ رورل سپورټ پروګرام۔ جناب سپیکر! په دے کښ زمونږه دے معزز اراکینو خصوصاً د هائیډل جنریشن طرف ته ډیره اشاره کړے ده، زه هم د دے خبرے تائید کوم چه زمونږه په دے صوبه کښ زما په خیال پینځه، شپږ داسے د هائیډل جنریشن ځائیونه شته چه زما په خیال یو په آلائی‌خوړ کښ، په کانړه خوړ کښ، په چترال کښ او په مټلتان کښ، داسے ځائے په ځائے، که دے ټولو باندے عملدرآمد اوشی نو زمونږ په دے صوبه کښ چه کوم غټ غټ ډیمونه دی، د هغے ډیمونو نه به د دے پاور زیات وی او دا زمونږ د دے صوبے د پاره واحده د آمدن یوه ذریعه ده نو زه به دا خواست کومه چه دے طرف ته زیاته توجه ورکړے شی او خصوصاً د مټلتان د پن بجلی گهر چه کومه معاهده شوے ده نو په دے باندے زه مشکور یمه جی۔ جناب سپیکر! د دے سره سره د کم تنخواه دار طبقے د پاره هاوسنګ سکیم او د ملاکنډ رورل سپورټ پروګرام په باره کښ زه دا ګزارش به اوکړم چه ملاکنډ ډویژن د رقبے په لحاظ د دے صوبے دریمه حصه ده او دا همیشه د پاره پسمانده راروانه ده نو زه مشکور یم چه دا یو پروګرام د دے د پاره دستخط کړے شو۔ البته په دے کښ به زما دا عرض وی چه دا د د نورو پراجیکټونو په شان په تنخواګانو باندے لاړ نه شی، کم از کم په دے ساند باندے او هغه کار د اوکړے شی چه اولیدے شی او هغه کار چه قوم ته فائده اورسی او علاقه پرے ترقی اوکړی۔ جناب والا! د دے سره سره د ملازمینو تنخواه او پېنشن زیاتول، دا هم د ستائینے وړ دی۔ هغه کسان چه هغه کلاس فور دی او بار بار ئے دے

هاؤس ته جلوسونه راوستی دی، د دغه خلقو په تنخواه کښې چه د درے سوه روپو کومه اضافه کړے شوے ده او د هغوی په مستقبل کښې د ریټائرمنټ نه پس چه کوم غور په دے بجټ کښې شامل دے نو دا هم د ستائینے وړدی۔ پکار ده چه د ریټائرمنټ نه پس د هغے خلقو په مستقبل باندے غور اوکړے شی۔ د دے سره اعانتی نرخونو او په قرعه اندازئ د ټریکټرو فراهم کول او په محکمه تعلیم او صحت کښې 9985 او 2280 پوسټونه Create کول، دا زمونږه د صوبے نه د بیروزګارئ د لرے کولو د پاره یو قدم دے۔ زمونږه په دے بجټ کښې جی ایجوکیشن له زیاتے پیسے حسب روایت ایښودے شوے دی خو په دے کښې زه دا عرض به اوکړم چه خصوصاً په دے کښې کمپیوټرائزډ نظام د موجوده دور د پاره ډیر اهم دے لکه څنګه چه اعلان کړے شوے دے۔ زما سره په دے جیب کښې د ټیلیفون یو ډائریکټری ده لکه دا زمونږه د کم علمئ خبره ده څکه چه دا به جوړه کړے چا وی لیکن مونږ پخپله دے ټیلیفون ډائریکټری کښې اندراج نه شو کولے۔ زه د یو دفتر نوم نه آخلمه خو یو دفتر ته زه تلے ووم، په هغے کښې دا کمپیوټرائزډ نظام دے۔ هغوی چه په کمپیوټر کښې کوم حساب کتاب رابند کړے دے نو د یوے حلقے کلی ئے په بله پسے لیکلی دی او د بلے حلقے کلی ئے په بل پسے، نو دا خو زمونږه د علم تقاضه ده۔ نو که دغه شانتے زمونږ ماشومانو کښې دا کمپیوټرائزډ نظام راشی او د نوے دنیا سره مساوی شی نو زما په خیال باندے دا ډیر ښه پیشرفت دے۔ جناب سپیکر! د تعلیم په سلسله کښې زما به لږ وخت معمولی غوندے، که لږ ما له زیات راکړے شی، زما دوه راغلے دی --------

جناب سپیکر: د پارټئ مشران چه دی، هغوی ته لږ زیات وخت دے او نور د مهربانئ اوکړی چه ټولو ته ټائم ملاؤ شی یا یو بل ته ټائم ورکوئ۔

جناب قیموس خان: جناب سپیکر! کهٔ تاسو یاد وی نو په تیر بجټ اجلاس کښې تاسو ما له صرف یو منټ راکړے وو۔ یو منټ زما په خیال ------

جناب سپیکر: زوړ قرض اوس خلاصوے؟ (قہقہے)

جناب قیموس خان: جناب سپیکر! زه د دے پرائمری ایجوکیشن په سلسله

کښې، دا PIP programme چه دے، په دیکښې زه عرض کوم۔ دلته محسن علی خان صاحب او زمونږ اکثر معزز اراکینو دا خبره اوکړه چه تیر کال زمونږه په ایجوکیشن کښې کوم ټارګټ چه دے، هغه نه دے پوره شوے۔ د هغے وجه زه تاسو جی ښودلے شم۔ د هغے وجه دا ده چه زما په خیال باندے، زما د کم علمۍ خبره به وی یا زه به نه پوهیږمه شاید، تاسو اصلاح اوکړئ خو زما په خیال باندے څلور، پینځه کاله مخکښې چه تعلیم کوم ترقی کړے ده او دا موجوده چه کوم PIP نظام چه شروع شوے دے نو څلور، پینځه کاله پس به دا تعلیم لاندے را غورځیږی۔ جناب سپیکر! دوه قِسمه دی، یو Quantity ده او یو Quality ده۔ جناب سپیکر! که مونږه Quantity ډیروؤ نو هلته کښې Quality راغورځوؤ، که Quality ډیروؤ نو Quantity راغورځیږی۔ اوس پکار دا ده چه مونږ دا مساوی یو بل سره واخلو۔ زما په خیال باندے کوم پرائمری سکولونه چه کال په کال جوړیدل، هغه بند شوی دی۔ هغه لرے څومره چه آبادی زیات ده، کومو علاقو ته چه ضرورت دے نو دلته کښې یو شے شروع دے، که تاسو دا اخبار اوګورئ، په هغے کښې اشتهار راشی، په هغے کښې نے لیکلے وی چه دے فلانکی سکول سره کمره ده، فلانکی سکول سره کمره ده، دومره لسټ پرے جوړ شی، په سونو کمرے وی، د هغه کمرو زه تاسو ته عرض اوکړمه جی چه په یوه حلقه کښې یا په یوه علاقه کښې یو سکول دے، د هغے خپل یو Criteria ده چه دومره تعداد وی نو په دے سکول کښې به کمره اضافی جوړیږی، نو چه کله محکمه د هغه سکول یو تعداد را اولیګی چه په دے سکول کښې ضرورت دے او کله چه دوئ منظوری ورکوی نو د هغه سکول سره خانے نه وی ځکه چه هغه د کلی په مینځ کښې وی۔ هغه چه په کوم خانے کښې وی، د هغه سکول سره نو دوئ د هغے تعداد ورکوی چه دا پوره دے او په دیکښې د کمرے ضرورت دے۔ نو خصوصاً زمونږ دا غرنیزه علاقے چه دی، هغے کښې د غَر کټانی غواړی نو دوئ وائی چه زمونږ په دے فارموله کښې دا کټانی نشته نو هغه هم ډراپ شی او دا هم ډراپ شی۔ چه دا ډراپ شی نو دا سلسله روانه وی او دا بل کال ته واوړی۔ زما په خیال باندے هغه کال ختم شی او کمرے یا نورڅه شے جوړ نه شی۔ دا

د سکولونو په مینځ کښ رکاوټ راغے، جوړ نه شو او کمرے دلته هم جوړے نه شوے نو دا شے چه روان دے، زما په خیال باندے تعلیم به ترقی او نه کړی او دا محکمه به زوال باندے بیا روانه وی۔ جناب سپیکر! زه خصوصاً د خپلے حلقے د محکمه تعلیم په سلسله کښ به دوه درے عرض اوکړم او پکار دی چه دا نوټ کړے شی۔ زمونږ په ټول سوات کښ د جینکو یو کالج دے او هغه په مینګوره کښ دے۔ په خوازه خیله کښ چه کوم دے نو اے ډی پی کښ هلته کښ د جینکو هائی سکول دے، د هغے سره ښه مکمل لویه زمکه هم شته دے او یو بلډنګ اوس جوړ شوے دے۔ د جینکو د هاسټل ډائریکټر کالجز Feasibility جوړه کړے ده او د هغه هم دا رائے وه چه که دا هاسټل د جینکو په کالج کښ بدل شی نو د دے د پاره زه ګزارش کومه چه په دے باندے د غور اوکړے شی۔ نور داسے هائی سکولونه دی، د هغے د هائر سیکنډری ضرورت دے۔ بعضے پکښ مډل دی چه د هغے کمرے پوره دی خو Non -developmental side باندے هغه مکمل کول غواړی خو د وخت بچ کولو د پاره زه د هغے نومونه نه شم اخستے۔ جناب سپیکر! د صحت په شعبه کښ دا یوه دیرینه مطالبه وه، سیدو ګروپ آف هاسپټل ته د ټیچنګ هسپتال حیثیت ورکولو باندے زه مشکور یم د وزیر اعلیٰ صاحب، خصوصاً د خوازه خیلے هسپتال کښ چه کوم Improvement د پاره فنډ مقرر شوے دے، هغه Ongoing دے لیکن په دے کال کښ ورته نورے پیسے هم ایښودے شوے دی، د هغے مشکور یم او د هغے سره سره زمونږه دوه سب تحصیلونه دی، چار باغ سب تحصیل او فتح پور سب تحصیل، دغے کښ بی ایچ یوز دی چه د هغے آر ایچ سی درجے ضرورت دے۔ دا ګزارش کوم چه هغه اے ډی پی کښ راشی۔ د دے نه علاوه دے ارباب صاحب چه کوم د هغه ډسپنسرو خبره اوکړه جی نو زمونږه د 1985 نه دا یوه پالیسی را روانه ده چه ډسپنسریانے په پالیسئ کښ نشته په تیر حکومتونو کښ اکثر داسے په دے غرونو کښ جوړے شوی هم دی خو لکه بندے پرتے دی او یا پکښ پولیس چوکیانے جوړے کړی دی نو که دا پالیسی اوړده کړے شوه هغه علاقو ته چه هغه دور دراز علاقے دی او ډسپنسریانے هلته کښ جوړے

کړے شوے نو زما په خيال باندے هغه خلقو ته به موقع باندے د صحت ضرورت پوره کيږی- جناب سپيکر! زما بانم پاتے دے جی، پوره شوے نه دے- جناب سپيکر، د دے سره سره د ايريگيشن په سلسله کښ فتح پور نهر ته کوم فنډ چه ورکړے شوے دے، زه د هغے هم زه مشکور يم- د هغے سره سره گزارش دے چه دا نيشنل ډرينج پروگرام چه دے که دا سوات ته، د سوات دا ندی نالياں چه دی يا سيند چه کوم قيمتی زمکه کټ کوی، د دے خانے زمکه او د هغه خانے زمکه کښ فرق دے، دلته چه زمکه کټ شی نو بيا هم گرونده کيږی خو هلته خاوره يوسی او هر څه ختم شی- نو که سوات ته دا Extend شی او هلته کښ د دے بندوبست اوشی د پروټيکشن د پاره نو دا زمکه به بچ پاتے شی- د هغے سره جی زه ايگريکلچر ته راځمه- د سوات زمکه داسے ده چه هلته کښ تقريباً درے حصه زمکه کښ يو فصل جوار کيږی او په دوه حصو باندے دوه فصلونه کيدے شی- هلته يو طريقه جوړه شوه چه لکه په دے بره سوات کښ د سيب د باغاتو ډير دغه اوشو- د ډير وخت نه، تقريباً دا يو پينځه کاله اوشو چه هغه رو به زوال دے- خلقو هغه اوويستل او ډيرو خلقو ته نقصان اورسيدو- جناب سپيکر! د هغے وجه دا ده چه يو خو دا کوم مصنوعی دوائيانے چه دی، په دے کښ فرق دے او د هغے صحيح وخت باندے فائده مند کيدل نشته- دويم دا دے چه څوک داسے ماهرين نشته چه دا اوگوری چه دا ولے دومره علاقه بربادئ طرف ته روانه ده؟ نو که دے طرف ته توجه ورکړے شی، داسے صحيح سروے اوشی چه آيا په ديکښ څه فرق دے چه د هغه خلقو دا معاشی نقصان ټهيک کړے شی نو زه به ډير زيات مشکور يم- جناب سپيکر! د کميونيکيشن په باره کښ زه د دے مشکور يم چه زمونږ د کوم سړک د پاره Crash programme کښ پيسے منظور دی، البته کار ئے سست دے، هغه کار د تيز کړے شی- د هغے نه علاوه دا درگئ کالام روډ دے، بی بی هم ونيلے وو، دا زما سره د پرائم منسټر محمد نواز شريف صاحب د 1993 آرډر هم پروت دے، په ديکښ دا درگئ کالام روډ شامل وو نو په دے زه هم گزارش کومه چه غور د اوکړے شی- په سياحت کښ زمونږه د بل څه شی ضرورت نشته خو صرف د سړک

بندوبست د او کړے شی او هغه سړک دا دے چه که د دریائے سوات په غاړه باندے یو سړک، یو پیره لکه مضبوط جوړ کړے شی، ډبل کیرج، نو زما په خیال دا د سیاحت د پاره به ډیر ښه Improve شی۔ د هغے سره سره لرے علاقو کښې چه کوم زمونږ جهیلونه دی، دا متلتان کښې دے یا په بشیګرام کښې او یا په دے علاقو کښې، که هغے ته سړکونه اوشی نو دا د سیاحت، خکه چه دا د دے علاقے واحد انډسټری ده جی۔ زهٔستاسو ډیر وخت اخستو باندے معذرت غواړمه او مشکور به یم که حکومت په دے تجاویزو باندے غور اوکړی نو انشاءالله صوبه به ترقی اوکړی۔

Mr . Speaker: Honourable Farid Khan Toofan , MPA , to please resume the discussion.

جناب فرید خان طوفان: شکریه۔ سپیکر صاحب! که تاسو سَر لږ اوچت کړو چه زه تاسو سره خبرے------

جناب سپیکر: ما آوریدلی دی چه زما ایکټنګ سپیکر صاحب یوه ورخ دا خبره کړے ده چه بل چل هم راځی د بهر د ویستو ښه، لږ په دغه خبرے کوئ، هغه ما آوریدلے دی۔

جناب فرید خان طوفان: سپیکر صاحب! زه ډیرے خبرے نه کومه۔ سپیکر صاحب! ستاسو شکریه ادا کوم چه تاسو ما ته په بجټ باندے د بحث کولو د پاره، پیسے اخستو د پاره دعوت راکړو۔ زه هغه خبرے چه په بجټ دلته کښې اوشوے، هغه دوهراؤ کووم نه او دا خبره کووم چه په بجټ باندے چه کوم سیر حاصل تبصره لیډر آف دی اپوزیشن، بی بی کړے ده، تقریر او بیا د هغے نه پس محسن علی خان چه کوم تفصیلی خبرے اوکړے نو هغه اعداد و شمار چه دا بجټ خالصتاً د خسارے بجټ دے او دا ئے ثابت کړه او د هغه اعداد و شمار په بنیاد باندے دا خبره ئے د هاؤس ممبرانو او دے قوم ته اوښودله چه دا بجټ چه کوم بله ورخ زمونږه د صوبے وزیر خزانه چه پیش کړے دے نو دا د خسارے بجټ دے۔ نو زه د هغے په دے اثراتو او د دے نه عوام چه به کومو مشکلاتو کښې مبتلا کیږی او یا به دا خلق د هغے سره

مقابله څنګه کوی؟ بحث نه کوم- خو دا راځم دے د پاره چه که بجټ د خسارے وی او که دا اضافی بجټ وی، د هغے د پاره حالات په ملک کښې داسے شانتے وی چه د هغے په بنیاد باندے خلق د هغے حالاتو په وجه باندے، که د خسارے بجټ وی نو د هغے د برداشت کولو قوت ورکوی او که دا اضافے بجټ وی نو د هغے د استعمالو قدرت هم ورکوی- هغه حالات څه وی؟ سیاسی حالاتو باندے زه خبره کول غواړمه- په ملک کښې داسے حالات وی چه سیاسی استحکام وی پکښې نو په هغے کښې خو عوام د دے جوګه وی چه که هغه د خسارے بجټ وی، که هغه د تاوان بجټ وی، که هغے کښې خلقو باندے ټیکسونه وی خو سیاسی طور سره دا شانتے هغوی ته ذهنی سکون وی او د دے حالاتو مقابله کولو د پاره هغه تیاریدے شی- جناب سپیکر صاحب! زمونږه د دے ملک بد قسمتی ده، د دے پنځوس کاله اوشو او په دیکښې کښې سیاسی استحکام نه راځی- زه خو د ټول ملک خبره به پریږدم، زه به راشمه دے صوبے ته- زمونږ د دے صوبے داسے بد قسمتی ده چه د ډیرو کلونو نه دا د عدم استحکام شکار ده او د هغے عدم استحکام په وجه باندے زمونږ د بجټ که کوم اثرات وی، کوم نقائص هم وی، خلق چه کوم دی، هغوی ته زیات مشکلات پیدا کیږی- زه دا وایم چه نن دے حالاتو، دا چه کوم بجټ، د 1997 د انتخاباتو نه پس زمونږ د موجوده حکومت دا دریم بجټ دے، اولنی بجټ کښې دا خبره کیدله چه خزانه خالی ده او دا حقیقت دے چه هغه وخت کښې چه کوم شدید مشکلات وو، د هغے تقاضا هم دا وه- زمونږ د ملک پرائم منسټر دا اووئیل چه حالات دا شانتے دی چه خزانه خالی ده او مونږ د خود انحصارئ طرف ته ځو او دے مشکلاتو باندے به زمونږ حکومت د بهترینو پالیسو په بنیاد باندے قابو اومومی او راتلونکی دوه درے کاله پس به دا شانتے شی چه دا خلقو ته چه کوم مشکلات نن ښکاری، د آسانئ ژوند تیرولو به قابل شی- جناب سپیکر صاحب! په هغه وخت کښې د خزانے خالی کیدو مژده چه قوم ته اورولے کیدله نو ورسره دا پیغام هم ورکیدو چه د دے ملک نه به د هغه مشکلاتو او د هغه خرابو جړمونږ اوباسو چه د کوم په بنیاد باندے د دے ملک خزانه خالی شوے ده- جناب سپیکر صاحب! دویم بجټ

راغے او دے دویم بجټ کښې هم زمونږه هغه مشکلات چه دی، هغه شانتے دی۔ زه دا ونیل غوارمه، د دے خبرے مطلب ے هم دا دے چه نن زمونږ دا دریم بجټ چه دے، اوسه پورے زمونږ د دے ملک هغه ریل چه کوم دے، په پټړئ رانغلو، هغه مشکلات هم هغه شانتے دی۔ اوس جناب سپیکر صاحب، زمونږ په دے بجټ کښې دا چه کوم مشکلات دی، هغه باندے قابو ولے نه موندے کیږی؟ زمونږ د حکومتونو ټوله توجه، زه دا نه وایم، زه چه ولاړ یم جناب سپیکر صاحب، نو دا خبره به یو ځل بیا دوهراؤ کړمه چه هغه ورځ بی بی چه کوم تقریر کړے دے او دے منظور حسین باچا چه په هغے باندے د حکومت د طرف نه کوم اظهار کړے دے، زه په هغے کښې هغے سره شاملیدل غوارمه۔ ما د بی بی تقریر بار بار اوکتو، په هغے کښې هغے د پولیټیکل سکورکولو کوشش نه دے کړے۔ زه هم د پارټئ د یو ادنیٰ کارکن په بنیاد باندے دا خبره کوم چه نن زه ولاړ یم، زه هم داسے کوشش نه کومه چه زه خواه مخواه دے حکومت باندے تنقید اوکړمه خو دا خبره کول غواړم چه نن کوم مشکلات دی، د دے مشکلاتو د حل کولو فرض زمونږ موجوده حکومت یا زمونږ د صوبے تیر شوے حکومتونه چه د عدم استحکام شکار وو، هغوی په دے وجه باندے خپله توجه ورنه کړے شوه ځکه چه د هغوی ټول وخت په دیکښې تیریدو چه زما د حکومت پښے به ځنګه مضبوطیږی۔ جناب سپیکر صاحب! بحیثیت د دے اسمبلئ د یو ممبر ما له خلقو ووټ را کړے دے نو دا شانتے زمونږه درے اتیا ممبران دی، په هغے کښې اتیا ممبران چه کوم دی، ټولو ته به خلقو ووټونه ورکړے وی۔ زه ډیر په دعویٰ سره وایم چه یو ممبر به دے تیر شوے کال کښې یا د هغوی په حلقو کښې ترقیاتی کارونه چه کوم دی، عوامو سره وعدے چه کوم هغوی په الیکشنو کښې کړی دی، د هغے د پاره هغوی هیڅ حوصله افزاء اقدامات نه دی کړی۔ زما په حلقے کښې په تیر کال کښې د یوے روپئ ترقیاتی کار نه دے شوے۔ ولے جناب سپیکر صاحب؟ ځکه چه زمونږ د بجټ کوم ترتیب چه راځی، بجټ وائی هم دے ته چه هغه تخمینه چه کومه ده، هغه اندازه چه کومه ده، چه حکومت ئے د ټولے صوبے ترقیاتی کارونه د پاره کوی یا د هغوی د اخراجاتو

کنټرول د پاره کوی، هغوی چه په بجټ کښ کوم ترتیب ورکړی نو د هغے په بنیاد باندے کارونه او نه شول۔ ولے؟ تیر حکومتونه د سیاسی عدم استحکام په بنیاد باندے په دے فکر کښ وو چه زما ممبران د زما نه خوشحاله وی چه زما دا حکومت برقرار وی۔ نن چه کوم موجوده حکومت دے، د هغوی هم تیر ټول وخت خپلو جهګړو کښ تیر شو، خپلو مسائلو او مشکلاتو کښ تیر شو۔ د هر حکومت د ټولو نه اول Priority دا وی چه حکومت ئے برقرار وی خو د عوامو، د منتخب نمائنده حکومتونو دا طریقه کار د جمهوری مسلمه حقیقتونو خلاف دے چه یو جمهوری حکومت د صرف د دے د پاره برقرار وی چه هغه د خپل وجود برقرار اوساتی، په هغے کښ دے هغوی د خلقو د بنیادی مسائلو نه سترګے پټے کړی او هغه بنیادی مسائل چه د کومو د پاره دوئ منتخب شوی دی، هغه نظر انداز کړی۔ دا د یو ښه حکومت کارګزاری نه ده۔ زما رور، محسن علی خان صاحب په خپل تقریر کښ د حکومت ښه تعریفونه اوکړل او د خرابو اثرات ئے اوونیل۔ بیا د هغوی په تقریر ما ډیر سوچ اوکړلو خو هغه کله رنړه شی، کله توره تیاره شی نه، زه د هغوی د ډیرے ښکلے تبصرے په بنیاد باندے دا خبره کومه چه دا د هغوی حقیقت پسندی ده چه حکومت ښه کار کړے دے نو د هغے تعریف خو ئے کړے دے خو د هغے ښه کار چه کوم دے، دے د اودریږی او او د وانی چه د دوئ په حلقه کښ، چه تا د دے حکومت تعریفونه اوکړل نو ستا په حلقے کښ هغوی یو روپئ لګولی ده؟ زه دا خبره څکه کوومه چه که موجوده حکومت ته استحکام وے، Political stability وے نو ده به د دوئ، چه روزانه زمونږ د دے موجوده حکومت خلق راپاسی او وانی چه زمونږ حکومت ډیر مضبوط دے خو دا راته اووایئ چه د حکومت براقرارساتلو په بدل کښ عوامو له تاسو څه ورکوئ؟ جناب سپیکر صاحب! زما دومره عرض دے چه موجوده حکومت د خپل حکومت برقرار ساتلو په کوشش کښ د عوامو هغه بنیادی مسائل د نه نظرانداز کوی۔ زما صرف دومره عرض دے۔ او دا خبره زه د دے د پاره کول غوارمه چه Political stability چه کومه ده، عوامی نیشنل پارټی چه ده، ذا په پاکستان کښ د Political stability د

پاره صرف په خُله باندے وینا نه کوی، لکه چه زه اوس ولاړ یم او دا خبره کومه چه Political stability پکار ده او د دے د پاره بیا چه د قربانئ وخت راشی نو نه جی بیا زه یا زما پارټی په شا کیږی۔ زه دا خبره کوم چه په فروری 1997 کښ چه کله الیکشن اوشولو نو په دے صوبه کښ چه کوم رزلټ راغلے نو د هغے رزلټ په بنیاد باندے بتیس ممبران زمونږ او بتیس ممبران د مسلم لیګ راغلل۔ زمونږه رهبر خان عبدالولی خان بابا مونږه راوغوښتو چه بتیس ممبران تاسو یئ، تاسو هم حکومت جوړولے شئ، دا بنیادی خبره ما کول غوښتل چه هغوی مونږ ته اووئیل چه تاسو هم حکومت جوړولے شئ خو چلول نے ګران دی په بتیس باندے او په بتیس یاندے مسلم لیګ هم جوړولے شی خو چلول نے ګران دی او سردار صاحب ته دا خبره ما هغه وخت هم په ګوته کړے وه۔ د ولی خان دا خبره ورته نن ورته بیا یادومه چه دا نے وئیلے وو۔ اوس دلته کښ دا خبره راځی چه تاسو غواړئ چه دا صوبه د ترقی اوکړی، پښتانه د آباد وی، د آبادئ او د ترقئ د پاره دے صوبے ته د یو مستحکم حکومت ضرورت دے۔ دا به څنګه کیږی؟ که تاسو دواړه په دے باندے زور کوئ چه د دے صوبے د وزیراعلیٰ کرسئ د زما پارټئ ته ملاؤ شی خو Political stability به تر هغے پورے نه راځی چه تر کومے پورے تاسو سره بل چا نه وی منلے نو د دے د پاره به تاسو کښ اختلاف راځی۔ نو د دے صوبے د پاره به اولنئ قربانی عوامی نیشنل پارټی ورکوی چه Political stability راشی۔ د دے چیف منسټرئ د کرسئ نه تاسو دستبردار شئ، نن چه په دے صوبه کښ سردار مهتاب عباسی صاحب چیف منسټر دے او دے هغه وخت کښ Unanimous شوے وو، د هغے په شا باندے دا فلسفه وه چه د عوامی نیشنل پارټئ رهبر تحریک خان عبدالولی خان په دے صوبه کښ Political stability غوښته او د هغے د پاره نے خپله پارټی په دے باندے آماده کړه چه تاسو قربانی ورکړئ۔ مونږه هغه وخت کښ په دے جنګ کښ پرے نه وتو چه د صوبے چیف منسټر د څوک وی؟ د صوبے چیف منسټر د هغه سړے وی چه هغه، مونږه دستبرداره شو ـ جناب سپیکر صاحب! زه دا وایم چه عوامی نیشنل پارټی چه کوم بنیادی سوچ

لری، د هغے د پاره وقتاً فوقتاً قربانی ورکوی۔ اوس جناب سپیکر صاحب، دا خبره کومه چه د دے Political stability د پاره خو مونږه قربانی ورکړله، مونږه د دے د پاره چه د دے صوبے د خلقو د اوبو انتظام د اوشی، د سړکونو انتظام د اوشی، د بجلئ انتظام د اوشی خو د بدقسمتئ نه هغه ټول حالات داسے راغلل چه، زه دا خبره Base کول غواړمه چه نن موجوده حکومت د تیرو دوه کالو راسے صرف، کار نے څه دے؟ چه کله ناراض ممبران رضا کوی، کله آزاد ممبران رضا کوی او کله د حکومت مخالفو ممبرانو پسے وی۔ زه دا خبره کول غواړم چه عوامی نیشنل پارټی هغه وخت هم دا خبره کړے وه چه Polititcal stability د پاره د قربانی ورکړی او چیف منسټرئ د پاره دے جنګ نه کوی او او نے کړه او بیا دا خبره دوباره کول غواړمه چه عوامی نیشنل پارټئ دا موقف د دے د پاره اختیار کړلو چه د کمزوری حکومت نه مضبوط اپوزیشن ښه دے ځکه چه کمزورے حکومت به د خلقو کارنه شی کولے۔ نو مونږ دا خبره اوکړله چه مونږ د حکومت دعوئ ګیر نه یو، په دے باندے جنجال نه اچوو ځکه چه د دے صوبے د خلقو د ترقئ، د آبادئ کارونه به متاثره کیږی۔ جناب سپیکر صاحب! زه دا خبره په ریکارډ راوستل غواړم چه د هغے وخت، چه د کله نه زمونږه او د دوئ په مینځ کښې اختلاف پیدا شولو، حکومت مات شولو او مونږ ترینه بهر شو نو د هغے نه پس هم عوامی نیشنل پارټئ په هیڅ لاره باندے داسے کوشش نه دے کړئ چه دا د چیف منسټرئ یا د حکومت د اخستلو کوشش د اوکړی او په دے صوبه کښې د انتشار جوړ شی۔ ولے چه د دے په شا باندے دا سوچ کارفرما وو چه یو کمزورے حکومت د دے صوبے خدمت نه شی کولے۔ نو جناب سپیکر صاحب، زه دا خبره ځکه کول غواړم چه نن زمونږ په دے صوبه کښې ترقیاتی کارونه چه کوم دی، د کوم بجټ د پاره چه تاسو ما له دعوت راکړو چه په دے خبره اوکړه نو زه به په دے څه خبره اوکړمه؟ جناب سپیکر صاحب! وانی چه د ایټم بم دهما که اوشوله او دا ډهنډوره په ریډیو، ټیلی ویژن، مبارکباد او په پاکستان کښې دا ډیر یو عجیبه دستور دے چه د هر یو څیز نه، د هرے مسئلے نه Exaggeration کیږی، د هر یو څیز نه جناب

سپیکر: د اسلام او د کفر جنګ جوړ کړی- پرون کرکټ وو او دغه هم د کفر او د اسلام جنګ وو، بدبخت یو مونږه- کهیلونه کیږی، لوبې کیږی، چه څوک ښه لوبه اوکړی نو او به نے ګټی، چه ښه لوبه او نه کړی نو بائیلی به ئے او چه کله مونږ بائیلو نو اسلام مو بائیلو- هر مسئله چه راشی نو وائی چه حکومت لویه ترقی اوکړه- د ایټم بم دهماکه ئے اوکړله جناب سپیکر صاحب، ایټم بم د دے ملک د غریبو خلقو علاج نه دے- که په ایټم بم باندے ترقی کیده، که ایټم بم باندے خلق مقبول کیدل، ایټم بم باندے حکومتونه په Politically base باندے آسمان ته ختے نو د دے پاکستان نه څوارلس ورځے وړاندے د هندوستان حکومت اولنئ دهماکه کړے وه- جناب سپیکر صاحب! زه د دے موجوده حکومت توجه دے طرف ته راګرځومه چه هغے حکومت چه د پاکستان نه ئے مخکښ اولنئ دهماکه اوکړله، هغوی په راجهستان کښ دهماکه اوکړله او مونږه په چاغی کښ دهماکه اوکړله- هغوی په راجهستان کښ درے میاشتے پس الیکشن اوکړلو، چه چا دهماکه کړے وه، د هغوی د کسانو په الیکشن کښ ضمانتونه ضبط شول او زه دوئ ته وایم که تاسو پرے فخر کوئ چه مونږه په رشتیا آسمان ته ختلے یو نو راشئ الیکشن اوکړئ، پته به درته اولګی- د هندوستان دهماکه چه کومه ده، او زه دوئ ته وایم چه ستاسو دهماکه کښ به نور څه قوت وی- دا خبرے چه ملک کښ استحکام، د ملک سالمیت، د ملک دفاع په هغے باندے مونږه دے موجوده حکوقت سره بالکل یو خانے یو، زمونږه څه اختلاف نشته دے خو دا خبره کوم چه د ملک علاج د ایټم بم دهماکے نه دے- د ایټم بم دهماکه په مئی کښ اوشوله او دلته کښ جناب، د ریډ یو پاکستان په چمن کښ ئے د څرمنو غَر اودرو- جناب سپیکر صاحب! د دے څرمنو د غَر نه به اوبه راوځی چه زه په کرک کښ خلقو ته اوبه ورکړمه؟ زه د دے چیف منسټر صاحب نه پوښتنه کوومه چه نعره تکبیر، دا کوم شے وو، چه یو جلوس تاسو روان کړے وو، آیا په هغے د دے وطن، د دے کنټریکټ ملازمینو، غریبانانو او خوارانو روزی زیاته شوه؟ زه چیف منسټر، سردار صاحب ته دا خبره کول غواړم چه موجوده حکومت، چه په مرکز کښ هر څه کوی، په هغے باندے به په مرکز کښ

ممبران خبره کوی، مونږ د دے صوبے اسمبلی ممبران تاسو ته دا خبره کوؤ چه سردار صاحب، تاسو هغه بله ورځ یو تجویز راکړے وو چه اپوزیشن د په لاء اینډ آرډر باندے مونږ له تجویزونه راکړی او زه به ئے خیر مقدم کومه۔ زه نن ده ته دا وایم، که د دے صوبے د خلقو د پاره هر، بی بی درته دا پیشکش کړے دے، پرون زمونږه لیډر آف دی اپوزیشن، زمونږ د پارټئ مشرے تا ته دا پیشکش کړے دے چه د دے صوبے د خلقو د ترقئ، د آبادئ د پاره اودریږے او د دے خلقو حق غواړے نو مونږ تا سره یو۔ مونږه هوائی خبره نه کوؤ خو دا خبره درته کوؤ چه جناب، دا ډرامے چه کومے دی، د ځرمنو غرونه جوړول او د هغے په بدل کښ که پنځوس لکهه یا یو کروړ روپئ چه دی، هغه زما په کرک کښ، نن خلق هلته په جامونو د ختو نه اوبه راوباسی۔ دا محسن علی خان صاحب چه د کومے حلقے، د پټل خبره اوکړه، په هغے کښ داسے ځایونه شته دے چه هلته کښ بجلی نشته او اوبه د زمکے لاندے هم نشته، په میلونو د لرے ځائے نه ئے راوړی۔ جناب سپیکر صاحب! زه چه په دے بجټ باندے خبره کومه نو ما ته داسے ښکاری چه، په دے بجټ کښ ما ډیر کوشش اوکړلو چه هغه کوم شے دے چه زه د هغے ستائینه اوکړمه۔ ځکه چه زما کوشش دا وو چه زه د چیف منسټر صاحب، د دوئ د دریو کالو د کوششونو، دے چه کښینئ او وائی چه ما قومی خزانه یو امانت ګنړلے وو او ما ښه حکومت چلولے دے او ما سیکرټریان په دے مجبوره کړی دی او جناب سپیکر، تر دے حده پورے راته وائی چه مونږ د دے صوبے سرکاری ګاړی خرڅ کړی دی او په هغے باندے مونږ د نظام چلولو، تنخواه ورکولو کوششونه کړی دی۔ په دیکښ ما لټول چه د هغے نه پس زمونږ د دے صوبے وزیر خزانه چه کوم بجټ پیش کړے دے چه آیا هغے غریبو خلقو د پاره زمونږه په دے بجټ کښ څه شته؟ جناب سپیکر صاحب! که د سړکونو خبره ده، که د بجلئ خبره ده او که د هسپتال خبره ده، زه دا خبره په دعوے سره کوم چه نه زمونږ په هسپتالونو کښ، نه زمونږ سړکونه او نه زمونږه د بجلئ نظام کښ څه بهتری راغلے ده۔ جناب سپیکر صاحب! زه صرف دومره خبره کوم، اشارتاً خبره کول غوارمه چه په کرک کښ، زما

په حلقه کښې په تیر کال کښې، د سړکونو په مد کښې، د سی اینډ ډبلیو، صرف د روډ کنسټرکشن سلسله کښې، زما په حلقه کښې یو انچ سړک چا نه دے جوړ کړے او زمونږ سړک، جناب سپیکر صاحب، تاسو ماته ګهنټې اوکړله، زما خو لا ډیرے خبرے په زړه کښې دی او ما ونیل چه دا به کوومه۔ زما په حلقه کښې سړکونه مات دی او سړک داسے مات دے، که په دے یو دوه کاله کښې د هغے مرمت او نه شی نو اوس به پرے شل پنځویشت لکهه روپئ لګی او بیا به په کروړونو روپو هم نه جوړیږی۔ د هغے طرف ته تیر ټول کال ما د سی اینډ ډبلیو سیکرټری سره بار بار رابطه اوکړله خو په هغے مد کښې، زمونږ په کرک کښې، په Repair کښې، M & R کښې یو پیسه نه ده لګیدلے۔ جناب سپیکر صاحب! زه خپل تقریر، سردار صاحب روان دے خو یوه خبره ورته کوم چه ته خو خے، هغه بله ورځ نے په لاء اینډ آرډر باندے تقریر کولو، ونیل نے چه کانوائے ما ختمه کړله، جنوبی اضلاع ته د خلق خی۔ ما کانوائے ختمه کړله او داسے امن و امان دے چه د ماښام نه پس هر سړے تلے شی او خاص نے ما ته مخ راواړولو، ونیل نے چه جنوبی اضلاع ته، کرک ته اوس سړے تلے شی۔ ما ونیل چه د صوبے چیف منسټر دے، په رشتیا به نے حکم کړے وی، په رشتیا باندے به نے ختمه کړے وی۔ سردار مهتاب عباسی په اسمبلئ کښې اودریدلو او په دے دعوے سره ئے دا خبره اوکړله نو په سبا ما اراده اوکړله او زه د دے خانے نه اووه بجے روان شوم، د لاچئ ټاؤن نه یو فرلانګ دیخوا پولیس ولاړ وو او زه ئے اودرولم۔ ما ورته اوونیل چه ولے؟ نو هغوی ونیل چه دا کانوائے ده نو ما ورته اوونیل چه د چا په حکم؟ زه د اسمبلئ نه راغلم، په اسمبلئ کښې زمونږ وزیر اعلیٰ صاحب ولاړ وو او هغه ونیل چه ما کانوائے ختمه کړله نو هغوی ما ته اوونیل چه ته څوک ئے؟ ما ورته اوونیل چه زه هر څوک چه یم، ما په اسمبلئ کښې د چیف منسټر تقریر اوریدلے دے۔ دلته کښې حکم د چا چلیږی؟ جناب سپیکر صاحب! دے یوه خبره کوی او هغه بل بله کوی۔ زه ورته دا وایم چه ته په دے اسمبلئ کښې ما ته وائے چه ما ختمه کړله نو زه خو به ستا خبره منمه، ما ته اوښایئ چه په دے په دے صوبه کښې د چا حکم چلیږی؟ جناب سپیکر صاحب! نن

سحر زه د حیات آباد نه راروان ووم دے اسمبلئ ته، چه زه راتلم نو د اسلامیه کالج په دریو وارو گیټونو باندے پولیس والا موبائل سکواډ ولاړ وو او په دے ویگنو کښ غریب خلق، د سړک په فټ پاتھ تللو والا خلق نے اودرول۔ په یو گیټ باندے، په بل گیټ باندے د یو محکمے درے موبائل ولاړ دی او د دے خایه، زه ورته وایم چه د دے خائے د شهری، د پیښور اوسیدونکی خلق چه دی آیا د دوئ څه عزت شته؟ آیا د دوئ څه حق شته؟ تاسو په سائیکل باندے راتلونکی خلق، په ویگن کښ ناست خلق چه راځی، دے پیښور ته راځی نو څوارلس خله نے خو تاسو تلاشی اخلئ۔ منظور باچا دا خبره نن اوکړله، هغه ورځ دوئ ونیل چه زه مصر ته لاړم، زه ورته وایم چه ته مصر ته تلے وے، په قاهره کښ پولیس څو خله اودرولے وے، چرته چیک پوسټ وو؟ د دوه نیم کروړو آبادئ ښار دے او یو پولیس چیک پوسټ پکښ نشته دے۔ زمونږ په پیښور ښار کښ، دلته کښ چه ته د حیات آباد نه پیښور ته راځے، د اسلامیه کالج په گیټونو باندے پولیس ولاړ وی او د خلقو تلاشیانے اخلی۔ کسټم ولاړ دے او خلق د گاډو نه په زور راکوزوی۔ نو دا ورته وایم چه جناب چیف منسټر صاحب، تاسو اعلان کړے وو چه د اټک نه راپورتے، تا ونیل چه هزارے ته خلق خی نو زه دا خبره نه شم برداشت کولے، زه ورته دا وایم چه دا دو معیاری سلوک چه کوم دے، دا دوه معنی خبرے چه کوم دی، دا ولے کوئ۔ دا نه دی کول پکار۔ خکه زه دا خبره کول غواړم چه نن د موجوده حکومت په دے اسمبلئ کښ خبرے یو دی او بهر عمل بل دے۔ جناب سپیکر صاحب! زه به ستاسو توجه دے طرف ته راگرځوم چه مونږه پریشانه نه یو۔ جناب سپیکر صاحب! په تیر اجلاس کښ تاسو نه وئ او د دے اسمبلئ ممبران گواه دی چه د دے حکومت خپل ممبران د دوئ نه بیزاره دی او د هغه بیزارئ په وجه باندے زمونږه سردار صاحب ته قرار نه وی نو هغه به د صوبے د ترقئ د پاره څه اوکړی؟ زه دا خبره کوم چه د دے صوبے ترقی هله ممکن ده چه چیف منسټر سکون سره کښینی، په اطمینان سره کښینی۔ اوس به زه دا خبره اوکړم د هغه د تسلئ د پاره چه په اطمینان سره کښینئ کنه، تا ته څوک څه وائی؟ دا کارستا دے، حکومت ته کوه خو د دے صوبے د

حق، د خبرے د پاره ته آواز اوچتوه، مونږ درسره ملګرے يو او مونږه به انشاء الله دا څيز سر ته رسوؤ- جناب سپيکر صاحب! --------

جناب سپيکر: دا ئے لا اوبه نه درکړی، که اوبه ئے درکړے چه بيا به څه وی؟

جناب فريد خان طوفان: جناب سپيکر صاحب! ما وے چه تاسو به ما ته موقع راکړئ او ما دا خبره کول غوښتل چه دا ټول سسټم يا د دے Stability چه کوم ده، آخيرنے اثر چه کوم دے، دا په عوامو باندے کيږی- جناب سپيکر صاحب! په دے محصول چونګی، دے ضلعی ټيکس باندے مے يو خبره کول غوښتل چه دا ټيکس چه کوم وو، هغوی ختم کړے دے او موجوده حکومت دا چونګی ختم کړی دی- دے مسئله کښ د اپوزيشن پاليسی چه کومه ده هغه خو به، مونږ ټول ممبران به پابند يو چه په هغه پاليسئ باندے، خو دا خبره کوم چه دا ټيکس چه کوم ختم شوے دے، دے باندے احتجاج چه کوم دے، اصولی دا دے چه دا ضلعی ټيکسونه او د دے کارپوريشن او د ميونسپل، د دے لوکل باډيز په معاملاتو کښ دخل اندازی، دا د مرکزی حکومت حق نه دے او نه دا اختيار ورله څوک ورکوی خو دا مصيبت حقيقت کښ وو چه د دے نه خلق تنګ وو- ديکښ د بهترئ د پاره دا تجويز کوومه چه دا ټيکس او د دے چونګی ختمولو دا فيصله، حقيقت کښ دوئ چه څه وائی چه د بهترئ، د دے غريبو خلقو د عزت بچ کولو، د دغه ظلم د ختمولو، د ټهيکيدارانو د ظلم نه د خلاصولو د پاره ئے کړے وی نو مونږه ئے خيرمقدم کوؤ خو زه دا وايم چه د داسے نظام د پاره يو سسټم پکار دے چه دا ټيکس چه کوم خی چه دا په دے صوبه کښ پاتے شی- د دے سيلز ټيکس څه داسے انتظام اوشی چه په دے مد کښ هر څه خی، ولے؟ د دے چونګيانو نه هم خلق بيزاره وو خو د دے مرکزی حکومت دا طريقه کار چه دے، هغه راپاخی، کله وائی چه سينيټ ختموم، شريعت بل پيش کوم او شريعت راولم- په دے ملک کښ د ورکوټو صوبو د حقوقو د تحفظ، د ګارنټئ هغه اداره چه کومه ده نو هغه د ډيرو مشکلاتو نه پس، د ملک د دوه ټکړو کيدو نه پس او د دے ملک د شکست نه پس د پاکستان سياستدانان په دے نتيجه اورسيدل چه تر څو پورے د ورکوټو صوبو د حقوقو تحفظ يقينی نه شی

نو تر هغے پورے دا ملک ترقی نه شی کولے او د دے د پاره ایوان بالا د 1973 په آئین کښې اول خل باندے متعارف شو۔ جناب سپیکر صاحب! د هغے په بدل کښې موجوده جمهوری حکومت، د عوامو په ووټ باندے منتخب شوے یو حکومت وو، هغه راغلو او هغه ونیل چه زه شریعت راولم خو هغه د صوبو د تحفظ، د ګارنټئ د پاره چه کومه اداره ده، هغه ختمومه نو مونږ په دغه وخت باندے هم مزاحمت اوکړو او دا عوامی نیشنل پارټی ده، د عوامی نیشنل پارټئ په برکت باندے دا ممکن شوه چه هغه غیر جمهوری او غیر آئینی اراده کښې موجوده حکومت کامیاب نه شو خو زه دا خبره کوم چه دا نن نے کوم اقدام کړے دے، دا هم په Provincial autonomy باندے، صوبائی خود مختارئ باندے شدید ضرب دے۔ زه په دے باندے پوهیږم جناب سپیکر صاحب، تاسو تازه تازه ګورنری کړے ده، نو تاسو --------

<u>جناب سپیکر</u>: داسے کار دے فرید خان، چه ډیر ممبران پاتے دی، یوه ورځ ده مینځ کښې نو د هغوی هم حق شته دے۔ یو کس ورته ټائم ورکړئ، زه د هغوی د Time protection کووم۔ ما ته په دے اعتراض نشته خو ټائم پورے به ناست یم، چه ټائم پوره شی، پاسم به۔ ما ته د هغوی فکر دے ولے چه یو کس هم دا نه وائی چه مونږ چا له ټائم ورکوؤ نو دا مهربانی اوکړئ، پلیز۔

<u>جناب فرید خان طوفان</u>: جناب سپیکر صاحب! زه راخم، دا تاسو -----

<u>جناب بشیر احمد بلور</u>: جناب سپیکر صاحب! فرید طوفان صاحب ډیره خواری کړے ده۔ ده یو یو کتاب لوستے دے نو خواه مخواه لږ Explanation خو پکار دے کنه چه اوکړی۔

<u>جناب فرید خان طوفان</u>: جناب سپیکر صاحب! تاسو او بشیر خان زما ټائم خرابوئ نو زه به بیا هغه هومره وخت اخلم۔ زه دا خبره کوم، یوه ورکوتے غوندے خبره کوم چه کرک ضلع کښې د اوبو چه کومه مسئله ده، د هغے د حل کیدو یو علاج دے۔ د هغے یو علاج دے چه په کرک کښې مونږ 1990-93 کښې سمال ډیمز شروع کړی وو جناب سپیکر صاحب، په هغے کښې زیبی ډیم مکمل شو او دوه ډیمونه په تیر حکومت کښې ډراپ شول، پهل ډیم

او شرقئ ډیم اوس هم بند دی۔ زه وایم چه د کرک د زمکے د لاندے اوبه نشته او که شته نو هغه هم تروے دی لکه څنګه چه تاسو د مالګے خبره اوکړه نو د مالګے لاندے اوبه تروے دی۔ د کرک خلقو ته د اوبو د ورکولو یو طریقه ده چه هلته د ورکوټے ډیمونه جوړ کړے شی۔ دے موجوده حکومت ته صرف دا تجویز ورکوؤ چه که تاسو هم دا اراده لرئ چه د کرک خلقو ته دِ دَ اوبو انتظام اوشی نو هغه ډیمونه، چه په کومو باندے په لکهونو روپئ لګیدلے دی، هغے ته سړک جوړ شوے دے، په هغے د ریسټ هاوسز بلډنګونه جوړ شوی دی، په هغے باندے فزیبلټی رپورټونه تیار دی خو صرف په هغے باندے کار شروع کول دی۔ پهل ډیم، شرقئ ډیم او داسے نور ډیمونه په کرک کښ د جوړولو د پاره د اقدامات اوشی۔ جناب سپیکر صاحب! زه ورسره په آخر کښ دا خبره کوم چه په کرک کښ، محسن علی‌خان صاحب په خپل تقریر کښ د ډسټرکټ هیډکوارټر هسپتال خبره اوکړه چه په هغے باندے کروړونه روپئ لګیدلے دی، شل دویشت کروړه روپئ پرے لګیدلے دی او دا د محسن علی‌خان کوششونه دی چه هغه هسپتال اوس په آخری مرحله کښ دے او په هغے باندے ډیرے لږے پیسے لګی۔ اوس په دے تیر حکومت کښ چه مونږ کله په حکومت کښ وو نو ما د ورکرز ویلفیئر بورډ والا د خبرو اترو په بنیاد باندے راضی کړل چه په کرک کښ زما په حلقه کښ د ورکرز ویلفیئر بورډ زیر اهتمام یو هسپتال او سکول جوړ کړے شی۔ جناب سپیکر صاحب! زمونږ چیف منسټر صاحب هغه هسپتال چه د کومے هغوی Approval ورکړے وو، را اوچت کړو او د دے دریو کروړو د هسپتال شفټ کولو آرډر نے کړے دے۔ زه دا وایم چه کرک ډسټرکټ هیډکوارټر هسپتال باندے خو ډیرے پیسے لګیدلے دی او ډیر ښه انتظام پکښ شوے دے او اوس دا د هغے علاقے هغه ضرورتونه پوره کوی۔ دا دور دراز او غرنیزه علاقه ده او په هغے کښ چه مونږ کوم هسپتال تجویز کړے دے او د کوم چه Approval ملاؤ شوے دے، دا هسپتال که دوئ خواه مخواه د دغه ځائے نه بدلوی نو بل یو هسپتال د په هغه دور درازعلاقه، لکه کرک ته رابدل کړی۔ جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم۔

Mr. Speaker: The sitting is adjourned for tea break and we will re-assemble after half an hour. Thank you very much.

(اس مرحلہ پر چائے کیلئے ایوان کی کارروائی آدھے گھنٹے کیلئے ملتوی ہوگئی۔)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

Mr. Speaker: Honourable Salim Saifullah Khan, MPA, to please resume discussion.

جناب سلیم سیف اللہ خان: بسم اللہ الرحمٰن الرحیم۔ جناب سپیکر! میں آپ کا بیحد مشکور ہوں کہ آپ نے مجھے بجٹ پر اظہار خیال کرنے کا موقع دیا۔ جناب سپیکر! حقیقت یہ ہے کہ اللہ تعالیٰ نے ہمیں ایک انتہائی خوبصورت اور Resources rich جسے آپ کہہ سکتے ہیں، صوبہ دیا ہے جہاں کے لوگ محنت کش ہیں۔ ہماری Geographic location کو اگر دیکھا جائے تو ہم سنٹرل ایشیاء کے کراس روڈ پر واقع ہیں اور اللہ تعالیٰ نے اس صوبے کو ہر چیز عنایت فرمائی ہے۔ میرے خیال میں ہمیں ہر وقت اس بات پر اللہ تعالیٰ کا شکر ادا کرنا چاہئے لیکن یہ بھی حقیقت ہے جناب سپیکر، کہ پچھلے بچاس یا اکاون سال میں یہ صوبہ اس ملک کے دیگر حصوں کے برابر ترقی نہیں کر سکا۔ اسکی کیا وجوہات ہیں؟ اگر میں وہ باتیں شروع کر دوں کہ کیوں نہیں ہوا؟ کون قصوروار ہے؟ تو میں سمجھتا ہوں جناب سپیکر، وہ وقت کا ضیاع ہوگا۔ میں سمجھتا ہوں کہ اس پر زیادہ بولنا نہیں چاہئے لیکن کم از کم حقیقت تسلیم کرنی چاہئے کہ آج یہ صوبہ اس ملک کے دیگر صوبوں کے مساوی نہیں ہے۔ اگر پاکستان کے دیگر علاقے یا صوبے خوشحال ہیں تو ہمیں اس بات کی خوشی ہے لیکن ہمیں بھی یہ حق حاصل ہے، ہماری بھی یہ خواہش ہے کہ ہمارے بچے خوشحال اور تندرست اس معاشرے میں بڑے ہوں۔ جناب والا! مجھ سے پہلے بڑی اچھی تقریریں ہوئی ہیں۔ میں سمجھتا ہوں کہ Both sides، وہاں سے بھی اور یہاں سے بھی، میں ان کی تعریف کرتا ہوں اور یقیناً ان تقاریر سے ہمارے صوبے اور اس بجٹ کو تقویت حاصل ہوگی۔ میں صرف یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ نیوکلیئر پر بات ہوئی، بعض مقررین نے اس طرف اشارہ کیا۔ جناب سپیکر! میں سمجھتا ہوں کہ یہ وقت کی ضرورت اور ایک مجبوری تھی اور مجھے اس بات پر فخر ہے اور میں کم از کم ان لاکھوں یا کروڑوں پاکستانیوں میں شامل ہوں جو سمجھتے ہیں کہ یہ ایک ضرورت تھی اور ہمیں کرنا چاہئے تھی اور میں سمجھتا ہوں کہ ہمیں اس بات پر فخر ہونا چاہئے۔ بعض ممبران نے فرمایا کہ ان سے

کون سے چشمے نکل آئے یا اس سے کونسی ایسی ہماری مشکلیں حل ہوئیں ' الٹا ہم پر Sanctions لگ گئی ہیں ' ہم پر قرضے بند ہوگئے ہیں ' پاکستان کو نقصان پہنچا۔ جناب سپیکر! بعض چیزیں ایسی ہوتی ہیں ' پاکستان ہم نے کیوں حاصل کیا؟ شاید اگر ہم اکٹھے ہوتے تو یہ ایک زیادہ بڑی منڈی ہوتی' یہ ایک زیادہ بڑی مارکیٹ ہوتی' ہمارے ہاں شاید ہماری پیداواری صلاحیت بہتر ہوتی لیکن وہ ایک ضرورت تھی۔ اب میں یہ بھی کہونگا کہ بعض لوگ کہتے ہیں جی کہ نام تبدیل ہونا چاہئے۔ میں یہی سوال کروں گا کہ اگر نام تبدیل کیا جائے تو کیا لکی مروت میں پانی کے چشمے نکل آئیں گے؟ اس صوبے کے نام کی تبدیلی سے کیا یہ بہتر نہ ہوتا کہ ہم سب مل کر' جیسے اشارہ ہوا کہ اگر ہم سب اپنی توانائی اکٹھی کرکے اور اتفاق میں برکت ہے' مل کر اس پسماندہ صوبے کی خدمت کرتے تو شاید بہتر ہوتا۔ (تالیاں) یہ بھی کہا گیا کہ جی اس وقت ڈیکٹیٹر شپ ہے' ایک ہی آدمی فیصلہ کر رہا ہے' وغیرہ وغیرہ۔ میں یہ پوچھنا چاہتا ہوں کہ جب تیرویں اور چودویں ترمیم پاس ہو رہی تھی تو کونسی سیاسی جماعت نے اختلاف کیا؟ کیا میں یہ سوال کر سکتا ہوں اس ایوان میں کہ کس نے اختلاف کیا اس وقت؟ ایک طرف آپ خود اختیار دیتے ہیں اور دوسری طرف پھر آپ کہتے ہیں کہ جی یہ کیوں ایسا ہوا ہے؟ تو جناب سپیکر' میں زیادہ ان چیزوں پر نہیں آتا ہوں' میں بجٹ کی طرف آتا ہوں۔ اس وقت جو ملکی حالات ہیں ' Neuclear explosion کے بعد جو تکالیف ' جو Sanctions ' جو پابندیاں ہم پر لگی ہیں اور جو مجموعی حالات ہیں اس علاقے میں' جسے ساؤتھ ایسٹ ایشیاء کہتے ہیں' میرے خیال میں ان حالات میں جو بجٹ آیا ہوا ہے' وہ وفاقی ہے یا صوبائی ہے' میں سمجھتا ہوں کہ یہ ایک مناسب بجٹ ہے (تالیاں) کیونکہ حالات ایسے ہیں کہ ان حالات میں آپ شاید اس سے زیادہ بہتر بجٹ نہ دے سکتے۔ جناب سپیکر! میں سمجھتا ہوں کہ وفاقی حکومت کا ایک بڑا کارنامہ ایکسپورٹ ٹیکس جو سیکنڈ ورلڈ وار کے بقایاجات میں سے ہے' یہ آکٹرائے ایک ضلع سے' ایک تحصیل سے جانا' میں یہ پوچھنا چاہتا ہوں کہ یہ چیزیں کس ملک میں ہیں؟ انیس' بیس بلین روپے کیلئے لوگوں کو روزانہ ذلیل کیا جاتا ہے۔ انیس' بیس بلین روپے کیلئے جو نفرت پیدا کی جا رہی تھی اور خود ان کی جیبوں میں سو بلین' جو حکومت کے نگرز ہیں' شاید اس سے زیادہ ہوں یا کم ہوں' تو میں سمجھتا ہوں کہ یہ حکومت وقت کا ایک احسن قدم ہے اور اس کی تعریف کرنا میں سمجھتا ہوں کہ ضروری ہے۔ (تالیاں) جناب والا! میں اس کے بعد -------

جناب فرید خان طوفان: اس پر پردہ ڈالیے۔

جناب سلیم سیف اللہ خان: فرید طوفان صاحب سے میری گزارش ہوگی کہ وہ ـــ میں بس زیادہ نہیں بولوں گا۔ جناب سپیکر! اب میں آتا ہوں ایک انتہائی مسئلے کی طرف جس کی طرف میرے محترم بڑے بھائی ہمایون سیف اللہ خان صاحب، محترمہ بی بی صاحبہ، لیڈر آف دی اپوزیشن، محسن علی خان صاحب اور سب نے اشارہ کیا، وہ ہمارا Net profit ہے۔ حقیقت ہے کہ اس میں وفاقی حکومت نے اس صوبے کے ساتھ، انتہائی ناانصافی آپ اسے کہیں یا آپ Unreasonable کہیں فیڈرل گورنمنٹ کی لیکن میں سمجھتا ہوں کہ یہ چھ سو کروڑ روپے، پتہ نہیں یہ نگر کیوں اس وقت چھ سو کروڑ پر Cap ہوگئی تھی لیکن میں سمجھتا ہوں کہ یہ انتہائی زیادتی ہے اور میں نے ہمیشہ یہ گزارش کی ہے کہ اگر وفاقی حکومت اس وقت غریب ہے اور پیسے نہیں ہیں تو بے شک وہ رقومات ہمیں دے کر دوبارہ ہم سے قرضہ لے لے۔ اگر پچاس سال ہم ان سے قرضہ لے سکتے تھے تو آج وفاقی حکومت صوبوں سے لے۔ آج صوبہ، ڈسٹرکٹ کونسل سے پیسے لے رہا ہے تو ضرور ہم سے بھی قرضہ لے اور ہم ان سے جو شرح سو د ہے، شاید مارک اپ ہو ایک دو پرسنٹ، ہم ان سے کم لینے کیلئے تیار ہیں۔ تو میں سمجھتا ہوں کہ یہاں ہم سب کو مل کر اس کی یقینا مذمت کرنی چاہئے۔ میں Detail میں نہیں جانا چاہتا کہ این ایف سی ایوارڈ، وہ ساری باتیں ہو چکی ہیں، سرچارج ہمیں کیوں نہیں مل رہا اور ہمارا آئین بات کرتا ہے گیس اور Net profit کی، آئل بھی بڑی خوبصورتی سے بیچ میں آ گیا ہے۔ آئل کا آئین میں کوئی ذکر نہیں ہے لیکن آئل کو بھی اس میں یعنی اس کے اوپر جو ایکسائز ہے، شامل کیا گیا ہے تو میرے خیال میں یہ دھوکہ دینا ہے۔ آج کل کی Transparent دنیا کو، آج جناب والا، سٹار رپورٹ کی جو Tapes تھیں کلنٹن جیسے صدر جو دنیا کے مضبوط ترین ملک کے مضبوط ترین صدر ہیں، کی، وہ Tapes ایک گھنٹے کے اندر اندر ساری دنیا میں Key Internets پر گردش کر رہی تھیں۔ وہ زمانہ گیا کہ جب ایک چیز کو سی بی آر میں یا کہیں بند کمرے میں آپ چھپا سکتے ہیں۔ وہ وقت اب جناب سپیکر، چلا گیا ہے اور میں سمجھتا ہوں کہ ہر ایک بات ہمیں بتائی جائے کہ کیوں ہمیں یہ نہیں دیا جا رہا اور کیا مجبوریاں ہیں؟ اور جیسے میں نے ایک میٹنگ میں یہ بھی مثال دی کہ آپ کو IPPS بھی بجلی دے رہا ہے، جیسے صوبہ سرحد واپڈا کو بجلی دے رہا ہے تو ایسے ہی IPPS (Independent Powers Producers) بھی گورنمنٹ کو دے رہے ہیں اور ان کیلئے تو جب ورلڈ بینک

پانی کی بات کی، میں کہتا ہوں کہ وہاں پر بجلی نہیں ہے۔ ہمیں کہا گیا ہے کہ آپ کیلئے گرڈ سٹیشنز بنائے جائیں گے 220KV اور 120KV اور فلاں فلاں کی لیکن اس پر تو میں کم از کم صوبائی حکومت سے یہ توقع کرتا ہوں کہ وہ جنوبی اضلاع کو بالعموم اور خاصکر پھر ضلع لکی مروت کو بالخصوص کچھ توجہ دیں گے اور وہاں لوگوں کی جو محتاجی ہے، اس کو ختم کریں گے۔ جناب والا! صوبے کا جو بجٹ ہے، ان حالات میں میں سمجھتا ہوں کہ ایک مناسب بجٹ ہے۔ مجبوریاں ہیں، میں بس دو، تین منٹ اور لوں گا جناب والا، اور یقیناً ان حالات میں جبکہ آپ کو Net profits کا پورا حصہ نہیں مل رہا، Federal tax assignment میں آپ کی کمی آ رہی ہے اور اس میں بھی حکومت کا چلانا، میں سمجھتا ہوں کہ یقیناً یہ حکومت اس بات پرتعریف کی قابل ہے اور خصوصی طور پر اپنے بجٹ سے کرم تنگی ڈیم اور گومل ڈیم کا جو بنانا ہے، میں ہمیشہ یہ کہتا ہوں کہ جناب والا، جہاں پر ایجوکیشن انتہائی ضروری ہے، صحت انتہائی ضروری ہے، وہاں پر Productive sectors، آج پنجاب کی بنیاد کیا ہے؟ ان کا ایریگیشن ہے، ان کا ایگریکلچر ہے، ان کی تجارت ہے تو اگر آپ تعلیم ہی پر لگاتے جائیں اور آج کل ایف اے اور بی اے لڑکے جو ہیں، وہ خاکروب بننے کیلئے تیار ہیں، درخواستیں دیتے ہیں۔ آپ سب کو اس بات کا علم ہوگا کہ ایف اے اور بی اے تعلیم ۔کر کے کہتے ہیں کہ جناب، ہمیں کہیں خاکروب لگائیں۔ اسلئے ضروری ہے کہ اللہ تعالیٰ نے آپ کو اتنے وسائل دیئے ہیں پانی کے اور پھر بھی اس صوبہ میں اتنے وسیع علاقے بنجر ہوں تو میں سمجھتا ہوں کہ ہم سب کی، میرے خیال میں اس کیلئے کمزوری بہتر لفظ ہے تو کرم تنگی اور گومل ڈیم کیلئے میں امید کرتا ہوں کہ War footing پر صوبائی حکومت ان دو ڈیمز پر کام شروع کرے گی جس سے میں سمجھتا ہوں کہ چار اضلاع کو، ضلع کرک، بنوں، لکی مروت، ٹانک کو اور ڈی آئی خان بلکہ پانچ اضلاع کو اس سے فائدہ پہنچے گا۔ دو باتیں اور صوبائی حکومت کیلئے کہ ایک سٹاک ایکسچینج، دنیا میں ہر جگہ سٹاکس کا کاروبار زور پکڑتا جا رہا ہے، آج کل انٹرنیٹ کے اوپر سٹاک ایکسچینجز بن چکے ہیں، آپ خرید و فروخت انٹرنیٹ پر کر سکتے ہیں تو ہمیں بھی، اور اس میں وفاقی یا صوبائی حکومت کا ایک پیسہ نہیں خرچ ہوگا، میں پچھلے تین، چار سال سے یہ گزارش کر رہا ہوں کہ ایک سٹاک ایکسچینج کا قیام ہونا چاہئے لیکن یہ گاڑی آ کر بس ادھر ہی انڈس پر کھڑی ہو جاتی ہے، اس کو ذرا آگے لائیں اور یہاں پر بھی ایک سٹاک ایکسچینج لگائیں تاکہ یہاں کے لوگ بھی اس سٹاک ایکسچینج کے کاروبار میں حصہ لے سکیں۔

دوسری بات انٹرنیٹ کی شاید صوبہ سرحد میں کوئی کمپنی اس وقت کام نہیں کر رہی یا وہ پنجاب Based ہیں یا اسلام آباد Based ہیں یا کراچی Based ہیں۔ صوبائی حکومت کو کوشش کرنی چاہیے کہ کم از کم انٹرنیٹ کیونکہ اب Future جو ہے' وہ انٹرنیٹ کا ہے' اگر میں کہوں کہ آج Future forest کا ہے یا میں کہوں کہ ٹورازم کا ہے' اس وقت Future جو ہے' وہ Information technology کا ہے اور اس سلسلے میں میں امید کرتا ہوں کہ وہ ضرور اس کیلئے کچھ کریں گے۔ جناب والا! میں Drugs کے متعلق یہ کہوں گا کہ صوبہ سرحد کے جو اعداد و شمار میں نے اِدھر اُدھر سے پڑھے ہیں' تو اس وقت بیس سے پچیس لاکھ' آپ کی آبادی کا تقریباً آٹھ' نو فیصد یا دس فیصد کے قریب اس مرض میں مبتلا ہیں اور یہ سب کچھ وفاقی حکومت پر چھوڑ دینا یا امریکہ کی حکومت پر چھوڑ دینا' میں سمجھتا ہوں کہ یہ مناسب نہیں ہے اور صوبائی حکومت کو چاہیے کہ وہ اس کیلئے کوئی خصوصی پروگرام شروع کرے تاکہ Addicts جن کی تعداد روزانہ بڑھتی جا رہی ہے' یہ اس معاشرے پر ایک بہت بڑا بوجھ ہوگا جناب سپیکر' اور It might be too late at that time, اس کیلئے بھی میں امید کرتا ہوں۔ جناب سپیکر! لکی مروت کیلئے ہسپتال' وہاں پر بھی ہمارا ڈسٹرکٹ ہیڈکوارٹر ہسپتال تقریباً تیار ہے اور اس کیلئے اس سال پچپن' چھپن لاکھ روپے انہوں نے مختص کئے ہیں جو کہ میں سمجھتا ہوں کہ بہت کم ہیں۔ چاہئے کہ اس کیلئے کچھ رقم بڑھائی جائے تاکہ وہ بھی جلدی کام شروع کر دے اور وہاں پر ایک چلڈرن اور وومن کا ایک ہسپتال ہے جو میاں نواز شریف صاحب جب پہلے ٹرم میں تشریف لائے تھے تو انہوں نے یہ پیسے دیئے تھے' وہ تیار ہے اور ہم نے کئی مرتبہ حکومت سے رابطہ کیا کہ اس کو آپ Privatize کیجئے' وہاں پر پارٹنر ہیں جو اس کو چلانے کیلئے تیار ہیں لیکن اس پر ابھی تک کوئی عمل نہیں ہوا۔ یورینیم کا' چونکہ نیوکلیر کی بات شروع کی گئی ہے تو آخری بات میں یورینیم پر کرتا ہوں کیونکہ یورینیم اور نیوکلیر کا آپس میں گہرا تعلق ہے۔ جناب والا! بہت سے لوگوں کو شاید اس بات کا علم نہ ہو کہ "قبول خیل" لکی مروت میں ایک ایسا علاقہ ہے' جہاں پر یورینیم پائی جاتی ہے اور وہ یورینیم پھر آپ کی نیوکلیئر ری ایکٹرز وغیرہ وغیرہ میں استعمال ہوتی ہے لیکن اگر آپ جناب سپیکر' اس علاقے میں جائیں اور اس علاقے کی پسماندگی دیکھیں تو انسان کو افسوس ہوتا ہے کہ یہاں سے آپ یورینیم لے جاکر فخر سے کہہ سکتے ہیں کہ ہم بھی ان سات ملکوں میں شامل ہیں' نیوکلیئر پاور میں لیکن جہاں سے یورینیم جا رہا ہے' اس علاقے

کیلئے کچھ نہیں کیا جا رہا۔ تو میری وفاقی اور صوبائی حکومت سے یہ دردمندانہ اپیل ہے کہ وہ قبول خیل کیلئے کوئی خصوصی پیکج کا اعلان کریں۔ شکریہ۔

Mr. Speaker: Honourable Abdur Rehman Khan, MPA, please.

Janab Farid Khan Toofan: Janab Speaker! personal explanation.

جناب سپیکر: جی۔

جناب فرید خان طوفان: عبدالرحمان خان! زه یوه خبره کوم جی۔

حاجی عبدالرحمان خان: ښه جی۔

جناب فریدخان طوفان: محترم سلیم خان زما تقریر طرف ته اشاره اوکړله او زما تقریر کښې د Political stability نه خپل یو مطلب وو۔ د دوئ دا خیال دے چه ګوندے د حکومت د تلو خبره ئے کړے ده۔ د ریکارډ درست کولو د پاره دا وایم چه ما قطعاً د حکومت د تلو نه تجویز ورکړے دے او نه مے د دے ارادے اظهار کړے دے۔ ما د Political stability په ضرورت باندے زور ورکړے دے۔ د دے نه دا نمونه تاثر که بل چا هم اخستے دے، غلط دے او که دوئ هم اخستے دے، غلط دے، دا خبره مے څکه اوکړله۔ ورسره دا وایم چه د خپلے ضلع نوم چه آخلی، د موږ ضلع چه کومه ده، هغه مه هیره وه څکه چه هغه هم ستا ضلع ده۔

جناب سپیکر: جی عبدالرحمان خان۔

حاجی عبدالرحمان خان: اعوذ باللهِ مِنَ شیطان الرجیم۔ جناب سپیکر صاحب! ډیره مهربانی۔ زه د قرآن شریف یو آیت وایمه، لږ به ئے تاسو صحیح کوئ۔ خدائے پاک په قرآن شریف کښې وائی، ابتدائی دغه ئے دا دے چه " الٓمٓ ۚ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ "۔ دا د قرآن آیت چه ما اوونیلو نو نن زه دے حکومتی بنچونه ته وایم چه آیا دا بجټ تاسو لیکلو، تاسو جوړولو، دیکښې دروغ وو او که نه وو او که دروغ وو نو تاسو به خدائے له څه جواب ورکوئ؟ دا قرآن کښې دی چه هر هغه څوک چه دروغ وائی نو په هغه باندے د خدائے لعنت وی، دا تپوس زه کوم۔ ښه، بیا د دے قرآن د آیت زه دوئ ته حواله

ورکوم چه خدائے پاک په دے قرآن کښې وائی چه "نحن اقربو من حبل الورید" اے خلقو زه تاسو ته ستاسو د مرئ د رګ نه هم نزدے یم۔ نو دوئ چه هر کله دے خپل عوامو له دهوکه ورکوی نو خدائے سره به څه کوی؟ دوئ به خدائے سره څه کوی؟ زه ډیر په افسوس سره دا خبره کوم جناب سپیکر صاحب، چه پنځوس کاله مونږه دروغو سره ګزاره اوکړله۔ پنځوس کاله زمونږ د پاکستان د جوړیدو اوشو او لګاتار دا دورغ دی چه پکښې ونیلے کیږی۔

جناب سپیکر: عبدالرحمان خان! دوه پنځوس کاله اوشو۔

حاجی عبدالرحمان خان: دوه پنځوس کاله اوشو، دا دوه پکښې لا روان دی خو جناب سپیکر صاحب، دوئ دے ته نه ګوری چه تاسو به د عوامو سره، دے غریبو سره، دے خلقو سره به څه کوئ؟ د اسلام دا رویه، ما بیګا هسے یو کتاب کتو، حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه چه کله خلیفه شو نو هغه اودریدو او په ممبر نے اووئیل چه که د دجلے په غاړه د لوګے نه سپے هم مړ شو نو ذمه واری به زما وی۔ زه د دوئ نه تپوس کومه چه نن راشئ اوګورئ، مخلوق د خدائے د لوګے او د بربنډتیا نه پروت دے۔ تاسو دا خبرے مه کوئ او د دے نه ګپ مه جوړوئ، دا تاسو باندے ناطق هغه فیصله ده چه تاسو د دے ذمه واری قبوله کړے ده او ذمه وران یئ۔ جناب سپیکر صاحب! ته په یو یو خبره، حق به حق دارته رسوے۔ دوئ کوم حقدارته حق رسوی؟ زه په دے بجټ کښې یو مثال تاسو ته پیش کوم چه شپږ ملین روپئ مونږه کیلاش ته کیښودے نو زه د دوئ نه تپوس کوم چه هغه خلق چه د 1961 نه تباهئ سره مخ دی، د دے پیښور خلق د ورسک د ډیم نه او ما تپوس کړے دے جناب سپیکر صاحب، ستا په دغه کښې پروت دے، زه تاسو ته هغه اوروم، سوال نمبر 276 ، په هغے کښې ما تپوس کړے دے چه د ورسک نه څومره زمکه خرابه ده؟ نو دوئ ما له جواب راکړے دے چه د ورسک ډیم نه لس زره جریبه زمکه خرابه ده۔ جناب! د کیلاش د پاره خو ته روپئ کیدے خو د 1961 نه چه د ورسک کومه زمکه خرابه ده او کومه علاقه تباه شوے ده، عین د پیښور ټول تحصیل پکښې تباه دے۔ زمونږه کلی جناب سپیکر

صاحب، تاسو ته شمارم۔ رومبنے کلے چه تباه شوے دے نو هغه گلی باغ دے۔ نمبر دویم کلے مغل باغ، بیا پیاړے، جوګانړئ، سرخنے، ریگے، ملازنی او د دے ټولو زمکے تباهئ سره مخامخ شوے دی۔ د شاهی، عین تاسو پورے دے سوریزو کښ چرته د اوبو درک نه لګیدو او هغه سوریزی او دا ټول پکښ تباه شو۔ نو آیا هغه خلق، د اسلام دا رویه، چه دا نن تاسو غواړئ د بجلئ پیسے نو زه د سلیم سیف الله خان او د همایون سیف الله خان دا یو دغه تاسو ته ښائم۔ د 98-1997ء د بجلئ په یو یونټ باندے په ورسک کښ 12.69 پیسے خرچ دے، دا که تاسو غواړئ، دا درکوم۔ 12.69 پیسے په دے بجلئ باندے خرچ دے۔ دا بجلی د چا په تباهئ جوړه ده؟ مونږه له مو د 1961ء نه اوس پورے څه راکړی دی؟ ولے مو دے تباهئ سره مخ کړے یو؟ مونږه خو د دے د پاره تباهئ سره مخ شو چه دا زمونږه ملک دے، دا زمونږه وطن دے۔ د دے د پاره مونږه د پیښور خلق هرے قربانئ ته تیار یو او زما حلقه په خصوصاً۔ نن ته په ایګریکلچرل ټیکس په دے لګوے، زه به دا ټیکس د کوم خانے نه ورکوم چه تا زما آباده زمکه د ورسک د ډیم د وجے نه خرابه کړه؟ زه به ټیکس څنګه ورکوم؟ جناب سپیکر صاحب! زه به نور محصولات څنګه ورکوم؟ تاسو خو زمیندار راواخستو او هغه زمیندار چه چا قربانی د دے ملک د پاره کړے ده، هغه مو تباهئ ته ورمخامخ کړو۔ باغونه اوُچ شو۔ تاسو پخپله د باغونو خاوند یئ، چرته د آلوچو باغونو د اولیدل؟ ټول په کتابئ باندے روان دی۔ ولے؟ د دے زیم د لاسه۔ ښه، د تیر بجټ په تقریر کښ راغلل چه د کافور ډهیرئ سکارپ د پاره به بندوبست کوؤ خو سکال هغه هم ورک شو، هغه هم ترے غائب شو۔ نو رشتیا خبره دا ده چه ډیر حیران او پریشان یم او لکه د اکرم خان غصه هم راځی چه هډو د دے اسمبلئ نه داسے واک آوټ اوکړم چه هډو بیا راځم نه۔ د هغے وجه دا ده چه دلته اسمبلئ کښ ممبران مونږه ناست یو او زمونږه حق څوک نه منی۔ مونږه خپل حق غواړو لکه څنګه چه دا صوبه جهګړے کوی چه د بجلئ رائلټی راکړئ نو په بجلئ کښ خو زه د ورسک خاوند یم، ما له چا څه راکړل؟ جناب سپیکر صاحب! د زمیندارو په حالت باندے ما، زه که دلته تعریف او نه کړم او په

ایگریکلچر کښې یو سړے دے او هغه لږ هلچل پیدا کړو ګنی پنځوس کاله راسے په زراعت کښې کار هډو شوے نه دے۔ یو سړے، زرقریش نامه نے ده، او زرقریش نامه نے ده چه هغه په دے زراعت کښې هلچل پیدا کړو او مونږه له نے ښه تخمونه راوړو د غنمو۔ زمونږه سکال، د افتخار مهمند او زما د هغه سړی د وجے نه د غنمو پیداوار شل منه جریب ته اورسیدو۔ ولے؟ او که په هغے کښې زه دا او نه وایم نو رشتیا خبره دا ده چه وایم، خدائے پاک قرآن کښې وائی چه " وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ٥ "
په دے کښې د وزیراعلیٰ ډیر مشکور یو۔ (*تالیاں*) چه هغه په دیکښې خاص دلچسپی واخسته او هغه سړے نے رامخے ته کړو خو یو سړے دے۔ د هغه یو سړی د وجے نه په زمیندارئ کښې هلچل پیدا شو۔ زه وایم چه د زراعت څومره وخت تیر دے، پنځوس کاله چه په دے څومره روپئ لګیدلے دی، دا ټرے اخستل پکار دی۔ دوئ دا ملک د تباهئ سره مخ کړے دے۔ دوئ باندے چه کوم خرڅ شوے دے، دا ناروا شوے دے، دا ظلم شوے دے او ډیر لوئے خیانت شوے دے۔ (*مداخلت*) دا بختور زما په تقریر کښې مداخلت اوکړی، بس زمونږه هغه هر څه خراب کړئ۔ دویمه خبره زه د وزیراعلیٰ په یوه خبره بیا مشکور یمه چه خزانه شوګر مل نے روان کړو۔خزانه شوګر مل که نه وے روان نو زمونږه د علاقے زمیندار تباهئ سره مخامخ کیدل خو ورته یادوم چه د زمیندارو په مرئ باندے دا چاړه راخکل،انډسټریز منسټر ناست دے، پچیس لاکھ روپئ روزانه د زمیندار د جیب نه لاړے پنځو ملونو ته۔ حساب راسره اوکړئ چه کوم سړے درکښې راځی۔ جناب! زر لارئ د ورځے ګنے سپلائی کیدو ملونو ته او پروسکال باون روپئ من ګنے وو، سکال نے په چالیس روپئ من کړو۔ پینتیس که چالیس پوخ راتلل، پینتیس روپئ من نے کړو نو ته د دے ځائے وزیر اعلیٰ وے، تا ولے د دے نوټس وانخستو؟ چه خاوره ګرانه شوه، دوانیانے ګرانے شو، مزدور ګران شو او د زمیندار فصل ارزان شو۔ په یو طرف ته د مونږه سره نیکی اوکړه خو په بل طرف ته دِ مونږه سره بدی اوکړه چه د انډسټریز والوؤ په چکر کښې راغلے او هغوی له د فائده ورکړه او مونږه دِ پریښو۔ جناب سپیکر صاحب! دا

غومره د ظلم خبره ده۔ زه دا ستا په نوټس کښې راولم او امید دے چه تاسو به په دے باندے غور اوکړئ چه ترنن پورے هغه خلق د زیم نه متاثره دی۔ ټول د قرضو په لړ کښې په جیلونو کښې پراته دی۔ ما یو کارخانه دار او نه لیدو چه کرورونه روپئ په هغوی قرض دی او هغه په جیل کښې پروت دے۔ زه ثابتولے شم او زه به دا سوال په اسمبلئ کښې راولم چه ما ته اوښایئ چه د انډسټریز قرضه غومره ده، د ایګریکلچر قرضه غومره ده، غومره Install شوے ده انډسټریز ته او غومره Install شوے ایګریکلچر ته۔ او د کوآپریټو کومه قرضه چه ده صاحبه دا دے زمیندارو نه ده اخستے، دیکښې زمیندارو 1/4 اغستے ده او دا 3 چه دے افسر شاهی اخستے ده او په جیل کښې ټول واړه زمیندار پراته دی۔ دا څه ژوند دے؟ بالکل هغه واړه زمیندار پراته دی او هر یو په دیوالونو ترے ټوپونه وهی، خواران۔ دے ته څوک نه ګوری چه اے زمینداره، بد بخته شپه او ورځ دِ په خان یو کړی وی، خواری ته کوے او مزے پرے دغه کوی، نامه ئے نه اخلمه، رانه خفه هم دے خو بیا (قہقہے)

رشتیا خبره دا ده چه د محسن د تقریر نه پس ما ونیل چه زه به په بجټ باندے نن هډو خبرے نه کووم خو دے ملګری راته څه خبره اوکړه، ونیل ئے چه محسن څه داسے دے چه اکبر بادشاه یو مُلا دوپیازه ساتلے وو (قہقہے) هغه به په ساعت کښې سرے خفه کولو او په ساعت کښې به ئے خوشحاله وو ---

جناب محمد افتخار خان مهمند: بیربل وو، بیربل وو۔

حاجی عبد الرحمان خان: بیربل وو؟ نه، مُلا دوپیازه وو۔ (قہقہے) جناب سپیکر صاحب! رشتیا خبره دا ده چه د وخت د کمے احساس هم دے راسره خو زه دا یو عرض لرم چه د ورسک بجلی، دا تاسو که وایئ نو ستاسو په علم کښې شته، 12.69 پیسے په یو یونټ باندے د هر څه سره لګی د تربیلے شته دے، د جبن مالاکنډ شته دے۔ جناب! یو کارخانه دار سرے فوجیانو او نه نیولو خو صرف زمیندار ئے راګیر کړی دی۔ په کلو کښې واړه غریبان خلق او د هغوی خلاف هر څه کوی۔ دا غومره د افسوس خبره ده چه په دے ملک کښې یو کارخانه دار له ګوتے څوک نه وراوړی، ولے؟ ما تپوس د چا نه اوکړو نو ونیل ئے چه د کارخانه دارو زورولی ده او د هغوی مشر کارخانه دار دے، د

زمیندارو مشر نشته۔ ما پرون شیرپاؤ خان ته ونیل، ما ورته ونیل چه څه به کوؤ؟ ونیل ئے چه د زمیندارو اتفاق نشته۔ زمیندار تباهئ سره مخ دی، مونږه ټول ئے تباه کړو، برباد ئے کړو۔ جناب سپیکر صاحب! زه تاسو ته یو دردناکه قصه کومه د هسپتالونو۔ جناب سپیکر صاحب! د کلو څومره BHUs چه دی، جناب سپیکر صاحب، په کلی کښ څومره بی ایچ یو گانے چه دی او د ښار هسپتالونو چه دی، په دیکښ دوائی نشته دے۔ په ښارکښ زه بیمار ووم، د روژے نه وړاندے او چار ئے ښه، بی بی دا ده ناسته ده، دوئ هغه کمیټئ کښ هغه دغه راغوښتے دے او اوس به په هغے باندے خبره شروع کیږی خو بدقسمتے دا دے چه کمیټئ کښ کومے خبرے اوشی نو په هغے باندے عمل نه کیږی۔ زه په هسپتال کښ پروت وومه، یو غریب سړے راغلو او ورَ ئے اوټکاوؤ د کمرے، ما نوکر ته اوونیل چه ورَ لرے کړه چه راشی، چه رانئوتو نو هغه زمونږه د علاقے وو۔ ما ورته اوونیل چه ولے؟ ونیل ئے چه درے زره روپئ راسره وے، هغه په ایکسرے او په دے نورو څیزونو لاړے، اوس راسره د دارو روپئ هم نشته، ستاسو نه نه ووم خبر خو گرخم په خواست پسے، کلی کښ هم راسره پیسے نشته دے چه څوک دارو راکړی نو جناب سپیکر صاحب، دا کروړونه او اربونه روپئ چه دوئ په دے بجټ کښ کیږدی، د دے دا دوانیانے چرته لاړے شی؟ ښه، په کلی کښ BHU ، د دوه بجو نه پس یو BHU کښ ډاکټر یا ټیکنیشن، یو شے نشته او هغه داروگان، یره ما سره خو ئے ثبوت نشته خو اوریدلی مے دی چه ټول خرڅیږی۔ او ما هغه بله ورځ په Meeting کښ ورته اوونیل چه دارو ناقص دی، ونیل ئے چه یره کمیټی ورله جوړه ده نو چه کمیټی ورله جوړه ده نو کمیټی ولے ناقص دارو واخستل؟ ښه، جناب سپیکر صاحب، دا خو د هسپتالونو حالت شو۔ د تعلیم درته وایم۔ زما په کافور ډهیرئ کلی کښ تر اوسه پورے د جینکو سکول نشته۔ په 1991 کښ سکول جوړ دے، عمله نشته۔ ولے ئے جوړولو؟ د دے د پاره ئے جوړولوچه کمیشن واخلو۔ آبادے ئے اوکړو او آبادے دِ اوشی خو استاد، اوس ته سوچ اوکړه چه په 1991 کښ سکول جوړ دے، اوس 1999 دے او داسے به ستا په حلقه کښ زما خیال دے

چه وی به۔ 1999 پورے دا جینکئ چه دی، دا خو ستا د پاره دغه کومه، هغه ستا وخت خان ته مجره کومه نو جناب سپیکر صاحب، د دے به څه علاج وی؟

جناب سپیکر: د وخت خو داسے خبره ده عبدالرحمان خان، چه اوس هم هلته کښې بعضو ممبرانو صاحبانو گله اوکړه۔ ما سره نور هیڅ فکر نشته، دا خو متعین وخت دے، سبا ئے آخری ورځ ده۔ دے نورو له خفه کیږم چه ټول ما ته گوری او داسے داسے راته کوی نو که چا ته په سختئ سره وایم نو هغه خفه کیږی او که چا ته نه وایم نو هغه نور پاتے کیږی۔

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر! دوه، دوه منټه جی۔ دا ټول که زما په خبرو خفه وی نو زه ترے معافی غواړمه۔ رښتیا خبره دا ده چه د دوئ ___ جناب سپیکر صاحب! زما په حلقه کښې د بدقسمتئ نه څوارلس کاله وړاندے ټینډر شوے وو او شاهی بالا پلوسئ روډ ټینډر هم اوشو، هغه ټینډر کینسل هم شو۔ هغه پُلونه وران پراته دی، هغه سړک وران دے۔ په دے خو پوهه یو چه کوم مړی ژوندی له لاړ شو جنابْ سپیکر صاحب، نو شل شل کنځل هلته خورو۔ وائی ممبر راغلو، لختے مو پروت دے، وینړئ مو پرته ده، سړک مو نه جوړیږی، پُل مو نشته۔ گوره د ورسک د تباهئ سره مخامخ سړے یم او په دریائے کابل مے پُل نشته دے او دے ته څوک نه گوری چه دریائے کابل باندے پُل نشته دے او په کشتئ کښې چه زنانه ورخیژی نو پینځے ئے را اوچتے کړے وی او جناب سپیکر صاحب، هغه کشتئ ته ځی۔ نودا احساس چه لس میله د ښارسره په دریائے کابل باندے پُل نشته دے۔ ښه، مونږ ممبران یو خو چار د خلقو ښه، زمونږه دله چه ده نو مونږه په فخر سره وایو چه هغه په پُل او په لختی نه ده، هغه زمونږ په کردار ده او مونږ خپل کردار ثابت کړے دے۔ ما د امام غزالی یو قصه بیگا نه هغه بله شپه کتله نو هغه په هغے کښې وائی چه اے بنده! ته په دے دولت څه کوے؟ "ولا تحبو الدنیا" تاسو په دے دولت څه کوئ؟ یا به د شوگر بیمار شئ او یا به د بلډ پریشر بیمار شئ یا به د بائی پاس آپریشن اوکړئ یا به دربانده بل مرض راشی او یا به بیا بنکاک ته سره د شیخئ ځے۔ (قہقہے) نو هغلته "ان المبذرین" هغه نور آیت

وروپسے بیا ته اووایه۔ بیا به هلته څه کوے؟ او بیا امام غزالی وائی چه بنده ته یو ساعت له سوچ اوکړه چه ته پیدا وے لغړ او چه ته ځے نو هم به لغړ یے، هیڅ به درسره نه ځی، هر څه به پاتے وی۔ ته د خدائے وحدانیت اومنه او د خدائے د مخلوق خدمتګار شه۔ زه چه سوچ کوم نو دا د خان خدمتګار دی، دا د جیب خدمتګار دی، دا د خدائے د مخلوق خدمتګار نه دی۔ خدائے پاک د مونږ له چه څه مو ونیلی دی، په هغے د عمل کولو توفیق راکړی او جناب یو شعر وایم د فارسئ -------

جناب سپیکر: بل څوک به وروپسے شعر نه وائی ولے چه هغه ورځ په اخبار کښې راغلی وو چه تاسو مشاعرے له راغلی یئ۔

حاجی عبد الرحمان خان: نه جی، وائی د۔

جناب سپیکر: نه، کار به کوو، کار به کوو۔

حاجی عبد الرحمان خان: بنه جی۔

خجل آں کس که رفت و کار نه ساخت　　　　رفت به منزل دیگرے برداخت

ډیره مهربانی۔

Mr. Speaker: Honourable Iftikhar Khan Mohmand, MPA, to please resume discussion.

جناب محمد افتخار خان مهمند: جناب سپیکر صاحب! زه ستاسو ډیره شکریه ادا کوم او د خپل بجټ ګزارشاتو نه وړاندے زه تاسو ته واپس پخپله کرسئ باندے په راتلو پخیر راغلے وایم او مبارکباد پیش کوم چه تاسو د ګورنرئ منصب په ډیره احسن طریقے سره، په کامیابئ سره چلولے دے نودا زمونږ د پاره ډیره لویه د فخر خبره ده۔ جناب سپیکر! ------

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! چه څوک غلط تعریف کوی نو د هغے به دغه انجام وی۔

جناب محمد افتخار خان مهمند: نه جی، دا بجا تعریف مے کړے دے۔

جناب پیر محمد خان (وزیر مال): جناب سپیکر صاحب! نیت نے مونږ ته خراب وو نو هغه چشمے ترے نه لاړے والوتے۔ (قہقہے)

جناب محمد افتخار خان مهمند ۔ جناب سپیکر صاحب! زه دا موقع ډیره زیاته اهم خکه ګنړم چه دا بجټ د کال 2000-1999 دے او مونږه به مخکښ صدئ ته هم د دے بجټ په ذریعه خان رسوؤ۔ جناب سپیکر صاحب! چه مونږ دے ته اوګورو نو په تمام دنیا کښ چه کوم ټول ممالک دی نو هغوی دِ یویشتمے صدئ د پاره یو خاص طریقه کارخپل کړے دے، یوخاص، د خپل خان د پاره نے ټارګیټس متعین کړی دی او یو خاص سمت هغوی خپل قوم له او خپل ملک له ورکړے دے چه آیا مونږ به په یویشتمه صدئ کښ په کومه کومه لار باندے خو چه خپل قوم ته د خوشحالئ او د ترقئ هغه اهدافو ته خان اورسوؤ؟ جناب سپیکر صاحب! زه صرف دا ګزارش ستاسو په وساطت باندے کول غواړم، بحیثیت یو عوامی نمائنده او شپږ میاشتے کښ دننه دننه به مونږ انشاء اللّٰه سال 2000 ته به وردننه شو نو مونږ له دا پکار دی جناب سپیکر صاحب، چه مونږه په دے خپل ګریوان کښ سر ښکته کړو او دا اوګورو چه آیا دا کومه صدئ چه تیره شوه یا دا پنځوس کاله وړاندے چه زمونږ دا ملک خداداد په معرض وجود کښ راغلے دے، د نن وخته پورے جناب سپیکر صاحب، مونږه د دے قوم او د دے ملک د پاره څه اوکړل؟ جناب سپیکر صاحب! په 1947 کښ یا د هغے نه وړاندے خو شکر دا دے چه زمونږه هغه مشران وو او هغوی به دا ونیل چه که دا ملک مونږ د انګریزانو نه خلاص کړو، که دا ملک مونږ د هندوانو نه خلاص کړو نو دلته به تش د خوشحالئ او د ترقئ یو دور وی۔ جناب سپیکر صاحب! دوه پنځوس کاله د هغے نه دیخوا اوشول او بیا یوه لویه سانحه په 1971 کښ اوشوله نو آیا چه مونږ په خپل ګریوان کښ سر ښکته کړو نو مونږ دا ونیلے شو جناب سپیکر صاحب، چه مونږ د دے خپل قوم، د دے ملک د خوشحالئ یا د ترقئ یو کار کړے دے؟ زه جناب سپیکر صاحب، دا هم یو ګزارش کول غواړم چه مونږ د سال 1971 د هغے سانحے نه هیڅ سبق زده نه کړلو بلکه څه وایو مونږه؟ مونږه دا وایو چه هلته کښ یو نظام وو او هغه ډیر خراب نظام وو۔ د هغے د وجے نه زمونږ نه مشرقی پاکستان بیل شولو او مونږ دلته په مغربی پاکستان کښ یو ازے پاتے شو۔ جناب سپیکر صاحب! زه په دے رنړه کښ د سال 1971 نه

دیخوا، دا اتہ ولیشکاله چه زمونږ کوم تیر شولو، په دیکښ په ټولو کښ لویه کارنامه جناب سپیکر صاحب، په سال 1973 کښ یو متفقه آئین دے ملک له ورکړے شو۔ د هغے په وجه باندے جناب سپیکر صاحب، په دے صوبائی اسمبلئ کښ، په قومی اسمبلئ کښ او په سینیټ کښ زمونږ عوامی نمائندگان، مونږ ټول کښینو او د یو بل سره گفت و شنید کوؤ او د دے په ذریعه باندے مونږه دا کوشش کوؤ چه دا ملک په یوه احسن طریقے سره اوچلوؤ۔ جناب سپیکر صاحب! په دے ضمن کښ زه دا گزارش کول غواړم چه دلته کښ محترم جناب وزیر اعلیٰ صاحب په دے معزز ایوان کښ بحیثیت د وزیر خزانه چه کوم بجټ پیش کړو نو جناب سپیکر صاحب، هغے ته دوئ د 288 Million فاضل بجټ وائی مگر جناب سپیکرصاحب، هیڅ علم نه دے پکار، هیڅ تعلیم نه دے پکار، یو عام سړے چه کوم دے چه هغه دا بجټ ونیلے شی نو هغه ته دا پته لگی چه دا د آتھ ارب مخامخ خساره ده۔ که دوئ ته د خپل مرکزی حکومت نه دا صوبائی محاصل، د قابل تقسیم پول نه هر څه ملاؤ شی نو بیا هم دا خساره د آتھ ارب ده۔ جناب سپیکر صاحب! تاسو به زما نه دا تپوس کوئ چه دا څنگه؟ دوئ د بجلئ د خالص منافعے په مد کښ 11.06 بلین روپئ ورکړی دی۔ جناب سپیکر صاحب! زما محترم رونړو دلته په ډیر واضحه طریقے سره دا اوونیل چه په سال 98-1997 کښ تاسو ته څومره ملاؤ شوے، په 99-1998 کښ څومره ملاؤشوے؟ تاسو پخپله دا وایئ چه دا 4.4 ارب مونږ ته نه دی ملاؤ شوی، Likely availability نو 11.6 به څنگه ملاویږی؟ نو جناب سپیکر صاحب، Straightaway 5.6 ارب چه کوم دے، نو دا خساره شوه۔ دغه شان جناب سپیکر صاحب، یو گزارش بل دے۔ په مرکزی بجټ کښ یو اعلان اوشو چه د سرکاری ملازمین په تنخواه گانو کښ د % 20 to 25 % پورے اضافه اوشوه۔ جناب سپیکر صاحب! ستاسو د Salaries budget چه کوم دے نو هغه 10 ارب دے نو تقریباً 2.5 ارب روپئ په دے صوبه باندہ دغه بوجھ راغے۔ جناب سپیکر صاحب! ما ډیر کوشش اوکړو چه زه په دے بجټ کښ دا اوگورم چه د دے 2.5 ارب روپو نشاندهی په کوم خانے کښ ده او دا به د کوم خائے نه راخی؟ جناب

سپیکر صاحب! زه خو په ډیر معذرت سره دا گزارش کول غواړم چه ما خو او نه کتلو نو د دے د پاره دا 5.6 plus 2.5 Billion straightaway ، د دے د پاره د ایکس فنانس منسټر پاتے کیدلو ضرورت نشته، یو عام کس به هم تاسو ته دا اووائی۔ جناب سپیکر صاحب! د دے نه پسته زه راخم دے Divisible Pool ته۔ جناب سپیکر صاحب! دے کال 2000-1999 کښې دوئ ونیلی دی چه دا به 16.78 بلین روپئ وی خو جناب سپیکر صاحب، زما دا گزارش دے او پکار دا دی چه هر کله د Divisible Pool خبره شی نو د صوبو دا حصه چه کومه ده، پکار ده چه مرکزی حکومت ځان پابند گنړی په هغے باندے او هغه د Actual راسره نه کوی چه نه جی، زمونږ خو په وصولئ کښې کمے راغلے دے او دے د پاره صوبو ته هم کم ورکوی۔ د هغے خو وجه ده جناب سپیکر صاحب۔ وجه دا ده چه د صوبو سره جناب سپیکر صاحب، څه ذرائع نشته۔ مرکز تاسو اوکتلو ، روستو ورځو کښې هغوی په پټرولو باندے بیس تا پچیس فیصد ټیوب ویلز باندے اضافه اوکړه۔ هغوی خو کولے شی او دا هم جناب سپیکر صاحب، هله نے اوکړله چه مونږ، Consumers کوم د دے قیمت ورکوؤ، د هغه وخت ورکوؤ جناب سپیکر صاحب، چه یو بیرل تیل په تیس ډالر باندے وو۔ دا جناب سپیکر صاحب، بیا دس ډالر له راغلے دی او چه دس نه څه بره شو نو په هغے کښې بیس نه پچیس فیصد اضافه راغله۔ مقصد زما دا دے سپیکر صاحب چه مرکزی حکومت سره ذرائع شته، هغوی خپل وسائل هر وختے زیاتولے شی، کسټم ډیوټی زیاتولے شی، جی۔ ایس۔ ټی لگولے شی۔ صوبے سره به څه وی؟ نو زما گزارش دا دے جناب سپیکر صاحب، د صوبے په Divisible Pool کښې چه کوم رقم دوئ له ورکول پکار دی چه بیا د هغے پابند وی۔ جناب سپیکر صاحب! دے سره سره زه دا گزارش کول غواړمه چه دے رقم کښې هم لکه څنگه چه سال 99-1998 په بجټ کښې دوئ دا وائی چه یو نیم ارب روپئ په ډیکښې کمے راغلے خو زما محترم رور چه څنگه اوونیل، اصلی حقیقت چه کوم دے، د هغے به پته هله اولگی چه کوم وختے تاسو Reappropriation Accounts اوگورئ، دا به هله پته لگی۔ نو دے د پاره زه دا گزارش کول غواړم جناب سپیکر صاحب، ستاسو

وساطت باندے وزیر خزانه صاحب ته دا وایم، خپلو رونړو ته هم دا وایم چه
هغے کښ، هر یو زما محترم رور مرکزی حکومت سره۔ دے Federal
Divisible pool باندے۔چه خبرے کوی ،نو ،ورته وائی۔ They should also
guarantee that, په هغے کښ رد و بدل چه کوم دے، صوبه نه شی برداشت
کولے۔ جناب سپیکر صاحب! دے نه روستو ټولو کښ لونے دے وخت کښ
د بحث یو موضوع چه جوړه شوے ده او مرکزی حکومت سره مسلسل په
هغے باندے گفت و شنید کیږی، هغه د نن پرا فټ مسئله ده۔ جناب سپیکر
صاحب! تاسو ته پته ده او تاسو خو د آئین ښه مطالعه کړے ده او د هغے بعض
بعض عدالتونو تشریح هم کړے ده۔ سپیکر صاحب! Article 161 clause (2)
د سال 1973 په متفقه آئین کښ دا ونیلے شوے دی چه تاسو د بجلئ خالص
منافع به صوبو ته ورکوئ۔ په کومه طریقه باندے به نے ورکوئ؟ د هغے
وضاحت شوے دے چه د Council of Common Interests د فیصلے مطابق به
کوئ او د هغے هغه ټول وضاحت په هغے آرټیکل کښ شوے دے۔ جناب
سپیکر صاحب! د Council of Common Interests دا فیصله چه کومه ده، دا
په سال 1991 کښ اوشوه، آئین په 1973 کښ جوړ شوے دے، د Council of
Common Interests دا فیصله په 1991 کښ اوشوه نو جناب سپیکر صاحب،
د هغے په نتیجه کښ یو Exercise اوشو، Exercise دا اوشو چه 1973 نه 1991
پورے فیصله اوشوه چه بهنی زمونږ صوبے له د مرکز نه څومره گرانټس،
Subventions یا څه شے ورکړے شوے وی او زمونږ هغوی ته د بجلئ د
خالص منافع په مد کښ چه څومره پیسے کیدے نو هغے کښ جناب سپیکر
صاحب، زمونږ هغوی ته تقریباً درے اربه روپئ پاتے دی۔ اوس جناب
سپیکر صاحب، د دے 1991 د Council of Common Interests نه وراندے، د
NFC Award 1990 په Clause (6) کښ هم بالکل وضاحت سره دا خبره شوے
ده چه زمونږ صوبے ته به خپل د بجلئ خالص منافع په دغے طریقے باندے
ملاویږی۔ جناب سپیکر صاحب! د Council of Common Interests of
NFC په Interpretation کښ هیڅ Ambiguity نشته، دیر واضح دے۔ د هغے
وجه دا ده چه د اے جئ این قاضی فارمولے سره هغوی یو Appendix

ورکړے دے د سال 85-1984- د هغے وجه دا ده جناب سپیکر صاحب، چه هغوی دا خبره واضع کول غواړی ځکه چه Continuous دے باندے بحث کیږی خو د هغے نتیجے ته څوک نه رسی- هغے کښ هیڅ Ambiguity نشته، د هغے په ذریعه باندے د 85-1984 نه، صرف دغه ټول Discussion نے کړے دے بلکه مونږ سره دلته کښ هغه واضح Appendix پراته دی او زه تاسو ته ښودلے شم جناب سپیکر صاحب، او ستاسو په وساطت باندے خپل رونړو ته ورکولے شم چه دیکښ هیڅ Ambiguity نشته- بیا هم جناب سپیکر صاحب، څه کیږی؟ دا جناب سپیکر صاحب، د 85-1984 چه کوم Calculation دے، دا ګورئ، آډټ او اکاؤنټس باندے Base دے، هوا کښ نه دے جناب سپیکر صاحب- هغه چه د واپډا کوم آډټ اینډ اکاؤنټس دی د سال 85-1984، هغے باندے هغوی Base کړے دے او هغه Appendix نے خپل رپورټ سره دغه کړے دے- دا یو پبلک ډاکومنټ دے جناب سپیکر صاحب، او هر څوک نے کتلے شی- اوس جناب سپیکر صاحب، د 96-1991 پورے بیا Exercise کیږی چه بهنی ستاسو د بجلئ په منافع کښ چه څه رقم کیږی؟ د دے دغه په دوران کښ جناب سپیکر صاحب، یو بل این ایف سی ایوارډ راغے په 1996 کښ- هغے کښ په Clause 6 کښ وضاحت سره دا خبره کوی چه نه صرف تاسو به هغوی ته د بجلئ منافع ورکوئ د اے جی این قاضی د فارمولے په مطابق بلکه Along with arrears, Janab Speaker Sahib, along with arrears. د دے این ایف سی د ایوارډ په رنړه جناب سپیکر بیا څه کیږی؟ ستاسو د صوبے نه، ستاسو د صوبے د عوامو پیسه، 2.5 ارب روپئ Excess source deduction کوی- دے ته څه وایئ؟ جناب سپیکر صاحب! زه ورته په خپل ناقص خیال کښ، زه ورته Blatant violation of Article 161 clause (2) وایم- بجائے د دے نه چه تاسو ته Arrears درکړی الټا هغوی اولګی ستاسو نه دهانی ارب روپئ جناب سپیکر، نورے آخلی- Janab Speaker! this is the exercise of blatantly violating the Constitution نو بیا مونږ ته کومه لار پاتے کیږی؟ اوس جناب سپیکر صاحب، زه دا ګزارش هم کول غواړمه چه د دے Exercise نه، Source deduction, 2.5 billion نه،

دلته کښې کمیټی جوړیږی چه بهئی Conciliation کوئ، دا Determination کوئ- د هر څه نه باوجود چه دا رقم هغوی متعین کړلو نو بیا ئے اوونیل چه No more source deduction. جناب سپیکر صاحب! هغه هم یو غټ کتاب دے، ما سره د دے کمیټیانو په مینځ کښې د فیډرل ګورنمنټ سره او واپډا سره چه کوم Re-conciliation شوے دے نو هغه یو غټ کتاب دے، که تاسو غواړئ هغه به راوخلم او تاسو له به ئے درکړم- د هغے نه پس جناب سپیکر صاحب، څه کیږی؟ پروسکال په بجټ کښې 277 ملین روپئ نور Resources deduction پیش کیږی نو ګزارش دا دے جناب سپیکر صاحب، چه هغوی ـخپل یو Interpreation دلته کښې زمونږه، ستاسو په وساطت باندے، تاسو مهربانی کړے ده او مونږ ته مو یو ذمه واری حواله کړے ده، د فنانس سټینډنګ کمیټئ د چیئرمین شپ مونږ قابل نه یو جناب سپیکر صاحب، خو مونږه اے جی را اوغوښتلو، فیډرل فنانس ډیپارټمنټ مو را اوغوښتلو، د واپډا چیف مو را اوغوښتلو، هغوی خو خیر په څه ذریعه باندے رانغلل خو اے جی صاحب مونږ ته دا اوونیل چه مونږ ته خو صرف فیډرل فنانس ریفرنسز راکړی دی په خپل Interpretation باندے او جناب سپیکر صاحب، هغوی بیا د هغے په رڼړه کښې ډیر مزیدار Calculation کړے دے- یو Interpretation جناب سپیکر صاحب، دا دے چه هغوی وائی چه مونږه د اے جی این قاضی فارمولے مطابق Calculation کړے دے نو 1994-95 پورے هغوی وائی چه 60227 ملین روپئ دی- بل وائی چه نه، یو آډټ ورکنګ کمیټی مونږ جوړه کړے ده، د هغے مطابق جناب سپیکر صاحب، د 1994-95 پورے 52699.863 ملین، آډیټر جنرل وائی چه نه، زما خپل هم یو Version دے خکه چه زه یو Autonomous body یمه، زه یو آئینی اختیار لرم، هغوی وائی جناب سپیکر صاحب، چه دا 54727.367 ملین دی- دا خو جناب سپیکر صاحب، حال دے چه په کومه فارموله باندے؟ مونږ دا وایو چه په دیکښې دویم Interpretation نشته، په دے کښې هیڅ مشکلات، Ambiguity نشته او دا هغوی درے فګرز بنائی- اوس جناب سپیکر صاحب، ګزارش دا دے چه مونږه هغوی ته دا یو هدایت ورکړے دے په 27 مئی باندے چه د اے

جی این قاضی د فارمولے مطابق، د Council of Common Interests د فیصلے په رنړه کښ او د سپریم کورټ په رنړه کښ تاسو مہربانی اوکړئ او مونږ ته دا اوښایئ چه دا رقم څه جوړیږی؟ دا درے واړه رقومات مونږ ته منظور نه دی، دا صحیح نه دی۔ هغوی جناب سپیکر صاحب، مونږ نه تر تیس اګست پورے وخت واخستو او انشاء الله چه هغوی صحیح رقم مونږ ته اوښائی په سټیډنګ کمیټئ کښ۔ اوس جناب، یوه ډیره Interesting خبره بله وایم۔ هغوی دا ونیل که مونږه تاسو ته اوښایو هم، مونږه ستاسو د پاره Independent working هم اوکړو نو تاسو به دا خپل رقم څنګه وصولوئ۔ اوس جناب سپیکر صاحب، د دے نه دا پته لګی چه زمونږه د آئین د پاره د هغوی په زړه کښ څومره احترام دے، د هغے فیصلو باره کښ هغوی کښ څومره جذبه ده۔ جناب سپیکر صاحب! زما خو دا ګزارش دے چه دا دوئ د آئین په آرټیکل (2) 161 clause باندے عملدرآمد کول نه غواړی نو چه دا نه کوی جناب سپیکر صاحب، نو مونږه به خپله، دا کومه قرضه زمونږ چه ده، دا ډیویلپمنټ لون چه ورته وائی، دا 7.4 ارب روپئ چه کومے دی، په دیکښ به Debt servicing ورکوو نو دا به مونږه د څه نه ورکوو جناب سپیکر صاحب؟ نو جناب سپیکر صاحب، ګزارش دا دے چه آیا دا مونږه اونکړے شو نو مونږ نه به دا خپل قوم او دا عوام تپوس نه کوی؟ هغوی به وائی چه تاسو دلته کښ ناست وئ نو تاسو څه کول؟ مونږه هغوی ته جوابده یو جناب سپیکر صاحب۔ زه به خپلو رونړو ته دا ګزارش کومه چه په هر څه باندے خیر دے که Compromise کیږی نو تر څه حده پورے سړے برداشت کړی خکه چه مونږ ټول یو رونړه یو خو په دے باندے Compromise کول جناب سپیکر صاحب، بالکل داسے دی لکه چه سړے په خپله مرئ باندے چاړه راکاږی۔ جناب سپیکر صاحب! زه یو بل ګزارش کول غواړمه۔ که داسے د آئین د آرټیکلز خلاف ورزی او Violation کیږی جناب سپیکر صاحب، When we call it as a Federation, then there is a— distribution of resources. او Distribution of resources د آئین د بعضے دفعات په ذریعه باندے کیږی، دا چه کوم آرټیکل 160 دے چه د کوم په ذریعه

باندے این ایف سی، نیشنل فنانس کمیشن، نو د Article 160 لاندے اوس جناب سپیکر صاحب، د NFC1990 violation اوشو او بیا جناب سپیکر صاحب، د هغې Violation نه روستو NFC 1996 د Non representative Government په ذریعه باندے اوشو چه کوم وختے کینر ټیکر حکومت او ټیکنوکریټس په خپل مینځ کښې کښیناستل او د 1996 یو NFC ئے اوکړو۔ جناب سپیکر صاحب! هغه NFC 1996 که تاسو په هر پهلو باندے اوکتو نو زه وایم چه هغه ,Finance Managers هغه ټیکنوکریټس چه چا هغه مرتب کړے دے نو هغوی ته پخپله دا پته وه چه .It can never be implemented خکه زه تاسو ته جی هغه کښې یو څو گزارشات دا کول غوارمه چه په NFC 1990 کښې فارموله دا وه چه د صوبو به 80 فیصد حصه وی او د مرکز به 20 فی صد حصه وی۔ په 1996 کښې ئے د صوبو د 80 نه ښکته کړه 67.2 ته او مرکز هغې کښې 32.5 یعنی یو قسم له هغه Gross فارموله کښې ئے تبدیلی راوسته۔ اوس جناب سپیکر صاحب، زه یو څو گزارشات ستاسو په مخکښې د NFC 1996 په باره کښې کول غوارم خکه چه زما خپل دا خیال دے چه دا ډیر Important دے جی - For the consumption of my honourable colleagues and زه - به -جی دوه منټو کښې ختمومه۔ جی دا Page 43 دے۔ جناب سپیکر صاحب! په دیکښې تاسو په Table A (9) Financial Projection of Government of NWF P کښې اوگورئ نو کال 1990 او د 2000 پروجیکشن چه کیږی 26433 million, this is from the divisible pool, Sir. او بیا خپل Receivable کښې دا لیکی چه زمونږ Revenue surplus دے، هغه 4116 ملین روپئ Surplus وائی۔ دا څو جناب سپیکر صاحب، ستاسو NFC 1996 دے او جناب سپیکر صاحب، زه بل گزارش ته راځم، Just to show blatant violation of the Articles of the Constitution, Mr. Speaker. Next one I am going to come to Article 151 Clause (3). د Article 151 Clause (3) لاندے ـ جناب سپیکر صاحب، No Province can create any hurdle, obstacle or tax on any comodity that is going from one Province to another, but what happened here Janab Speaker Sahib? It is very interesting. هغه - دا - کار

کوی چه په غنمو او اوړو باندے پابندی لگی- جناب سپیکر صاحب! ستاسو
ضرورت دے 2.5 ملین ټن غنمو ته او جناب سپیکر صاحب، We get 1.5
million tons at the convenience of PASCO and MINFA, but not
realising چه دا څومره Sensitive item دے ستاسو - This is your life line,
you can't do without it Janab Speaker Sahib, but yet Article 151,
Clause (3) could not be invoked and this could not be implemented
upon. تاسو ته پته ده چه کوم Crisis زمونږه د صوبو عوامو تیر کړے دے او
د دے په وجه جناب سپیکر صاحب We have to pay 3.6 billion as wheat
subsidy نو د دے خاص دا بالکل د هیچ چا په ذهن کښې Some ambiguity
that we have our own نه ده پکار او په دے وجه باندے په یو ټن باندے مونږه
1700 روپئ Subsidy ورکوؤ نو جناب سپیکر صاحب، It is very
important that we have to make out a policy and look at our own
resources. If look onwards, خپل خان له به دا سوچ کوؤ چه آیا مونږه به
خپل خان، پخپلو پښو باندے، Self sufficiency به څنګه Achieve کوؤ نو
دے د پاره جناب سپیکر صاحب، زما به گزارش وی ستاسو په وساطت باندے
خپل هغه رونړو ته چه کوم نن په Treasury benches باندے ناست دی، په
اهم عهدو باندے ناست دی، چه د خپلو اوبو، د خپلو ځنګلاتو، د خپلے
بجلئ، د دے تپوس ترے اوکړی او په دے Award باندے عملدرآمد یقینی
کړی- یعنی که نن، که اوس مونږ څه او نه کړے شو جناب سپیکر صاحب، نو
زمونږه راتلونکی نسلونه به مونږه معاف نه کړی خو شاید چه څوک داسے
پیدا شی چه هغه به خان له دا خپل حق اوګټی- (تالیاں) Mr. Speaker! just
one minute. جناب سپیکر! صرف په Financial managers باندے یوه خبره
کوم چه زمونږه Economy نے کوم طرف ته روانه کړے ده؟ خلق دوئ ته
وائی چه لکه تاسو سرمایه کاری اوکړئ، تاسو خلق راولئ، خلق د کارخانه
اولګوی نو جناب سپیکر، دلته به څوک راځی؟ تاسو هغه خلقو سره، چه
لږے ډیرے پیسے نے بچت کړی دی، تاسو څه اوکړل- Look at the people,
who invested in Taj Company, look at the people who invested in

societies, look at the people who invested in the foreign exchange accounts. Mr. Speaker! this is a broad day robbery. Therefore, Mr. Speaker, I would not call it an atmosphere which is friendly to investors. It is an investors nightmare, this nightmare has to be taken away. We can not live like this Janab Speaker, we can not

survive like this. ځکه هر کله چه تاسو یو کس له تحفظ نه شئ ورکولے نو. You can not run your economy. بل زه تاسو ته دا گزارش کول غوارم. Very shortly چه دوئ را اولگيدل د گورنمنټ savings باندے نے Interest کم کړو، 2% ډیر زبردست brainwave ده - Janab Speaker Sahib! we run on an adhoc, day to day basis. دا Finance managers که پاتے شو نو زه تاسو ته دا وایم چه This is the state of econemy beacuse people are now roamering after not your Government savings, they are going after the Dollar now. اوس ستاسو نه ډالر نه کنټرول کیږی- جناب سپیکر، د ملک دا معشیت، اکانومی چه کوم ده، دا په دے طریقه باندے چلیدے شی؟ نو د دے د پاره جناب سپیکر، زه دا هم ونیل غوارم چه هر یو کس، چه کوم سړے وائی چه زه دلته کارخانه لگوم نو He has to pay more than hundred taxes. جناب سپیکر! ټیکس خو لوکل وی یا صوبائی وی او یا مرکزی وی نو دا ټول ټیکسونه چه کوم دے، This needs to be reviewed او د دے په نتیجه کښ جناب سپیکر، You have now got people who owe the Government 200 billion. دو سو بلین هغه خلق د دے خلقو قرضدار دی، هغه د حکومت نه دی، They have to pay this money, they have no right to take their money. د دے نوی پالیسئ په وجه باندے دا تاسو اوگورئ چه Once that happens, no body will commit an irrregularity او دے سره سره زه دومره ونیل غوارم ځکه چه دلته ډیرے خبرے اوشولے خو صرف دا خبره کول غوارم چه دا ستاسو کوم Social sector چه دے نو No country in the world, Mr. Speaker, can give you 100% subsidized health, education and drinking water. No country

in the world can do that, with this kind of tax base. زما دا ۔ گزارش دے
جناب سپیکر، چه That they should be given to the local councils او د
لوکل کونسل الیکشن د هرے اسمبلۍ سره یو ځائے اوکړۍ نو انشاء الله We
will see the difference. ځکه چه به خلق، When they feel that this
belongs to us او دا زمونږه ذمه واری ده نو دا به خا مخا کوی۔ نه د کوی،
کوشے د نه کوی، سرکونه د نه کوی یو څو کاله Because, unless you
develop your human resource. او Human resources development څه
دے؟ جناب سپیکر! هره ورځ اخبار کښې راغلے وی چه په سعودی عرب
کښې نے د درے پاکستانیانو نه سر کټ کړو۔ هر سړے چه د شپے اوده کیږی
نو وائی چه سحر پاسم چه زه ارب پتی یم۔ There is no concept of hard
work, there is no concept of dignity of labour, هغے سړی ته مونږه
ښکته ګورو چه کوم سړے په خپل لاس باندے کار کوی یا خواری کوی یا
هغه په هر یو ډیپارټمنټ کښې Misfit وی ۔ Honest people are not
staying in it. Mr. Speaker! there is a massive brain drain. کوم سړی
چه لږ قابل وی، Honest وی، Upright وی، کار کولے شی، محنت کولے
شی نو جناب سپیکر صاحب، هغه په دے Set up کښې نه شی چلیدے، He
has to leave. Therefore, Mr. Speaker, we have to create the right
environment to allow them to work for us. جناب سپیکر صاحب ! یو
لنډه خبره د کارپوریشن باره کښې کومه ۔ I know that I am taking an
extra time. جناب سپیکر صاحب! د NHA، WAPDA او GDC -----

جناب سپیکر: پیر محمد خانه! زه ډیر ښه پوهیږم چه ته وائے، اهم اهم دے۔
ستا څو مطلب دا دے چه ټوله ورځ هم دے د لګیا وی چه ټول په قلاره پاتے
شی۔ زه ستا په مطلب ډیر ښه پوهیږم۔

Mr. Muhammad Iftikhar Khan Mohmand: The PTCL, NAS and
Rapid Transits Corporation, National Shipping Corporation, دا ټول
لکه ښنګه چه زما محترم رور اوونیل، د دے زمونږه په صوبه کښې حصه چه
کومه ده، هغه دا ده چه کوم د نوشهره جبلاټ روډ دے، Mr. Speaker, that

has to be financed not by the N.H.A, financed by farms to market roads components and you look at that Mr. Speaker, that is meant for farms to market roads دویٔ وانی چه نه جی- نو آخر دا مونږه کومه داسې ګناه کړې ده چه د کارپوریشن سره 34 billion، هغه نې د PSDP نه بیل ساتلې دې And that is the important point that I should raise it here. نو د ټولو ذکر جناب سپیکر صاحب، ما په دې وجه باندې اوکړو چه زمونږ International rating په دنیا کښې From AAA, it has gone down to CCC and going low, so I just want to repeat خکه چه تاسو نه ویٔ نو دلته کښې ډیره شعر و شاعری شوې وه او یو ډیر مزیدار دغه دا وو، یو بالکل اتفاق وو، ما د خپل مرحوم والد صاحب ډائری راخستې وه او دا دغه مې کتل- په 1962 کښې جناب سپیکر صاحب، ایوب خان، خدائې پاک د اوبخښی، پریذیډنټ وو او سردار بهادر خان چه کوم دې، He was the Leader of the Opposition. نو هغه یو شعر لیکلې وو، My father was at down نو زه درته دغه شعر وایم، که ستاسو اجازت وی خکه چه اردو کښې لږ اخوا دیخوا کیږ مه نو ما ته به لږه معافی کویٔ، وانی چه

یہ راز اب کوئی راز نہیں، سب اہل چمن یہ جان چکے
ہر شاخ پہ اُلو بیٹھا ہے انجام گلستان کیا ہوگا؟ (تالیاں)

Mr. Speaker: Honourable Haji Bahadar Khan, MPA (Dir), please.

حاجی بہادر خان (دیر)، شکریه، سپیکر صاحب- ستاسو ډیره مهربانی- بجټ باندې زمونږ مشرانو او دې ټولو بحث اوکړو خو دې بجټ ته زه هوائی بجټ وایمه، هوائی، هوا جنګول او هغه دا چه قیموس خان اووې چه On going schemes ډیر ښه کار دې چه پوره کړی- د 96-1995 سکیمونه په دې اے ډی پی کښې راغلی دی On going، زما په حلقه کښې د 96-1995 پورې چه څه شوی دی که هغه On going دی او که نوی دی، هغه شوی دی- د هغه وخت نه تر دې وخت پورې یو ښبته، یو بمبه، یو بیلچه خاوره نه ده لویدلې او هغه لنډه دا. چه زما په خیال 1996-97, 1997-98, 1998-99 او 1999-2000، زما درې د Sanitation او دوه د پبلک هیلتھ سیکمونه دی، نن هم په هغې کښې د

ځلور آنو کار نه دے شوے۔ نن هم هغه سیکیمونه دی۔ د 96-1995 سکیمونه دی چه نن هم په اے ډی پی کښ هغه دوه نومونه دی او On going کښ ئے وراچولی دی او دے ځل مے هم توقع نشته دے۔ زما خیال نه دے چه په دے دوه درے کالو کښ، په دریم بجټ کښ دوئ راوستے دے نو چه په دے دوه Budgets کښ دوئ د ځلور آنو کار اونکړو نو دا ځل مے هم خیال نه راځی چه تے اوکړی خو بهرحال یو څو تجاویز دی، زه دا ورکوم ځکه چه ټائم کم دے۔ پولس سیکمونه د پبلک هیلتھ بند وو، دوه On going او درے د سینی ټیشن سیکمونه چه کوم چه په اے ډی پی کښ زاړه راغلی دی نو ستاسو په وساطت دا درخواست کومه چه دا ځل په دے بجټ پکښ دا مکمل کړی او په دے باندے څه غور اوکړی۔ ورسره د 1993 نه کله چه زه راغلے یم، د 1993 په اے ډی پی کښ د شاهی تمر باغ روډ راغلے وو خو بیا د څه په وجه باندے چه زمونږ حکومت بدل شو نو هغه ډراپ شو، د هغه 1993 نه تر 1999 پورے زه د دغه تمرباغ روډ د پاره چغے وهمه او تر دے وخت پورے پرے هیڅ عملدرآمد او نه شو۔ یو د خزانے پُل دے او بل د ثمر باغ روډ دے، ستاسو په وساطت دا Request کوومه او زمونږ سره منسټر صاحب باقاعده وعده هم کړے وه او دا د خزانے پُل د ضلع دیر پاین درے ممبرانو، احمد حسن خان، هاشم خان غالباً او زه، زمونږه د درے وارو مطالبه ده چه دا د خزانے پُل دِ اوشی او دے ځل ورپسے درے واړه ورغلی دی، باقاعده منسټر ته هم وینا کړے ده او د پی اینډ ډی سیکرټری ته نے هم وئیلے دی نو چیف منسټر صاحب په دے خپل تقریر کښ څه پُلونه او سړکونه ورکړی دی چه 540 کلو میټر روډز او 18 پلُونه، دا به مونږه جوړوو نو په دیکښ زه ستاسو په وساطت دوئ ته Request کوومه چه کم از کم دغه د خزانے پُل او شاهی تمر باغ روډ په دے تجویز کښ ورسره راولی او دا ورسره پکښ اوکړی۔ زما په حلقه کښ تقریباً 245 کلی د بجلئ نه محروم دی او د 1993 نه تر دے وخت پورے بار بار زه وینا کوم خو له تر اوسه پورے پکښ یو بلب نه دے لګیدلے نو ستاسو په وساطت باندے دوئ ته درخواست کومه چه هغه علاقو له زیاته ترجیح ورکړی۔ په ایری ګیشن کښ تر دے وخت پورے، د ایری ګیشن د

محکمے منسټر دلته کښې هم دغه غني الرحمان وو په هغه تیر شوی حکومت کښې او دے خل هم دے، بیا بیا زه ورغلے یم، په هغے کښې معیارو کلے او تمرباغ، دا ډیر غټ کلی دی او منډه، چه هغه باقاعده خوړ سیلابونه اُوړی دی او څه نور کلی ئے هم پکښې اوُړی دی، په هغے کښې زه درخواست کوم چه په دے فلډ پروګرام کښې دغه شپږ، اته، لس کلی داسے دی چه هغه سیلابونه اُوړی چه په دے پروګرام کښې کم ازکم دے خل مونږه هیر نه کړی او شریک مو کړی۔ سر! دے تعمیر وطن پروګرام کښې، منسټر صاحب دلته پاڅیدلے وو په تیر شوی سیشن کښې او باقاعده ئے زمونږ سره وعده کړے وه په دے فلور باندے چه دے خل به زه دے ټولو ممبرانو له په کپ فنډ کښې باقاعده یو شانتے حصه ورکومه، فنډز به ورکومه۔ ډسټرکټ کونسل کښې په دے دوه، دوه نیم کاله کښې ما ته خالی پینځه لکهه روپئ ملاؤ دی باقی یو څلور آنیز تر دے وخت پورے نه دے ورکړے۔ زیاتے ئے کړے دے۔ پکار ده چه هغه زره بقایا هم راکړی او دے خل ئے چه کوم ایښودی دی چه دا هم په صحیح طریقه باندے تقسیم کړی۔ د ایجوکیشن په مد کښې زمونږه پنځوس داسے پرائمری سکولونه دی چه په هغے کښې په دے وخت کښې بجلی نشته دے، Already په کلی کښې بجلی شته دے، د سکول خوا کښې بجلی شته دے خو کنکشن ورته نشته دے او هغه په دے نشته دے چه ایجوکیشن پیسے نه دی جمع کړے یا سی اینډ ډبلیو پیسے نه دی جمع کړے نو زه دا درخواست کومه چه په دے را روان بجټ کښې، په دے پروګرام کښې کم از کم دغه سکولونو ته چه کوم هائی، مډل او پرائمری سکولونه دی او بجلی ورته نشته دے چه په دیکښې کم ازکم د بجلئ څه پروګرام اوکړی۔ د صحت په مد کښې په تمر باغ هسپتال کښې د آپریشن کولو د دوئ سره هیڅ پروګرام نشته دے، سامان پکښې نشته دے نو په دے زه دا درخواست کوم چه کم از کم په بی ایچ یوز او په هسپتالونو کښې دِ د دوایانو او د دے آپریشنونو څه پروګرام اوکړی۔ په ایګریکلچرل ساند باندے د قرضو د لاسه زمونږه څه کسان اوس هم په جیل کښې دی، نیولے ئے دی او جیل ته تلے دی۔ په یوم تکبیر باندے دوئ په کروړونو روپئ خرچ کړے دی او کم از کم په ضلع دیر کښې چه دوئ

کومے قرضے ورکړے دی، ټولے به څلور، شپږ کروړ روپئ نه وی نو زه دا درخواست کومه چه په مالاکنډ ډویژن کښ قانون دوئ د اسلامی نظام راوستے دے، د شریعت اعلان نے کړے دے نو په شریعت کښ او په اسلام کښ سود نشته دے۔ دے خلقو باقاعده سر یو په دوه جمع کړے دے چه کوم په جیل کښ دی او باقی لکه سود پرے پاتے دے، څه د سود حساب به هغوی پسے وی۔ هغے ته هغوی تیار نه دی چه یره دلته اسلامی نظام راغلے دے نو ستاسو په وساطت دوئ ته دا درخواست کومه چه دا کسان پریږدی او دا سود ورته معاف کړی ځکه چه شریعت نافذ شوے دے۔

جناب سپیکر: بهادر خان! زما په خیال دا بس دے۔ که دومره نے اوکړل نو دا به هم ډیره وی۔ که ډیر د زیات کړل نو دا به ترے هیر شی۔ (قهقهه) دومره شے وایه چه سر ته نے رسولے شی۔

حاجی بهادر خان (دیر): په پورټ کښ، سر، دوئ په تیر شوی وخت کښ ډیرے کهپلے کړی دی د دے اوړو په دے مسئله کښ په دے آخر کښ نے داسے غنم رالیږلی وو او اخستے نے وو، خدائے شته چه په هغے کښ د خوراک هډو څه شان نه وو۔ هغے په خلقو باندے ډیر غلط اثر کړے دے نو کم از کم دا د فوډ نظام دِ ټهیک کړی۔ ستاسو ډیر مشکور یم، ستاسو ډیره مهربانی۔

جناب سپیکر: آنریبل ظاهر شاه خان، ایم پی اے، پلیز، ظاهر شاه خان۔ بهتنی دا آخرنے یو کس کوؤ چه هغوی ته یو چانس ورکړو نو بس ختموؤ نے۔ جناب شیر زمان شیر صاحب، Absent. سبا به نه وی بیا گورے، ښه۔

Mr . Speaker: Well , the sitting is adjourned and we will reassemble tomorrow at 9.30 a.m. Thank you very much.

---

(اسمبلی کا اجلاس منگل 22 جون 1999 ساڑھے نو بجے صبح تک کیلئے ملتوی ہو گیا۔)